د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

پښتو

پنځم ټولگی

حا کال: ۱۳۹۰هـ ش

Ketabton.com

پـــورې اړه
که منعه دی.

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښتو

پنځم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

ketabton.com - The Digital Library

د کتاب د تألیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

لیکوالان:

- د سرمؤلف مرستیال امین الله نژند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت آمر.
- مؤلف عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست رئیس.

تایید او مطالعه:

ملي شورا

- د ولسي او مشرانو جرګو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

د څېړنې او تدقیق کمېټې:

کابل پوهنتون

- پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو دیپارتمنت استاد.

علومو اکاډمي

- سر څېړونکی عبدالواجد واجد د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

د پوهنې وزارت

۱. دوکتور احسان الله ناشر د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی.
۲. د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارګر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د دې کتاب ایډیټ کوونکی.
۳. فروزان خاموش د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنت علمي او مسلکي غړې.
۴. د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو د پیارتمنټ آمر.
۵. د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ غړی اود دې کتاب ایډیټ کوونکی.
٦. سیف الرحمن آشنا د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارتمټ ادیتور.

انځورګران:

نفیسه پوپلزی او محمد غالب الله یار.

عزیزالله د استقلال لیسې ښوونکی.

د محتویاتو، دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- ډاکټر عطاء الله واحدیار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئیس.
- دوکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.

د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین
- دکتور شېر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

کمپوز او ډیزاین:

رحمت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطـــن افغانـــستـان دی دا عـــزت د هـــر افغـــان دی

کـور د ســولې کـور د تـورې هـــر بچـــی يـــې قهرمـــان دی

دا وطـــن د ټولـــو کـــور دی د بلوڅـــــــو د ازبکـــــــو

د پـــښتـــون او هـــزاره وو د ترکمنـــــــو د تاجکـــــــو

ورســره عـــرب، ګوجـــر دي پامپـــــريان، نورستانيـــــان

براهـــوي دي، قزلبـــاش دي هـــم ايمـــاق، هـــم پـــشه يـــان

دا هيـــواد بـــه تـــل ځليـــږي لکـــه لمـــر پـــر شـــنه آسمـــان

پـــه سينـــه کـــې د آسيـــا بـــه لکـــــه زړه وي جـــــاويدان

نـــوم د حـــق مـــودی رهبـــر وايـــو الله اکبـــر وايـــو الله اکبـــر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميِ. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لونګو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زمونږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونده مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميِ.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زمونږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

لړليک

سرليک	مخ
حمد	۱
حضرت عثمان رضی الله عنه	۳
غږ پوهنه	۵
مېلمه پالنه	۷
مترادفې کلمې	۹
غوره ویناوې	۱۱
بي بي عايشه رضی الله عنها	۱۳
متضادې کلمې	۱۵
معيوب هلک	۱۷
ملي يووالی	۱۹
متشابه کلمې	۲۱
ملګري ملتونه	۲۳
متلونه	۲۵
څپه (هجا يا سېلاب)	۲۷
بشر دوستي	۲۹
آزادي	۳۱
دنومونو جوړښت (ساده نوم)	۳۳
ګيدړه	۳۵
مرکب نوم	۳۷
اشر (ګډ کار)	۳۹
دکونړ سيند	٤۱
مشتق نوم	٤۳
موزيم	٤۵
دبست کلا	٤۷

ketabton.com - The Digital Library

دپښتو ژبې توري	٤٩
الوتکه	٥١
د کلام برخې (نوم)	٥٣
ټلويزيون	٥٥
دماين خطرونه	٥٧
دټپ ټرل	٥٩
دنشه يي توکو زيانونه	٦١
دچينې غاړه	٦٣
خاص نوم	٦٥
ګل پاچا الفت	٦٧
عام نوم	٦٩
لمريز نظام	٧١
ابن سينا	٧٣
دونې ريښې	٧٥
چاپېريال يا محيط	٧٧
دمفرد او جمع نوم (مفردنوم)	٧٩
کولالي	٨١
نيوټن	٨٥
دجمع نوم	٨٧
شيدې پلورونکی	٨٩
صفت	٩١
مزارشريف اوبلخ	٩٣
د نوم اوصفت ترمنځ اړيکې	٩٥

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

حمد

موخه: دمتن لوستل ، ليکل ، د حمد په اړه معلومات ورکول اوپه شعر کې د نويو کلمو په معنا پوهېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې په حمد کې د چا صفت او ستاينه کېږي؟
- تاسې دلو ی خدای (جل جلاله) د قدرت د ننبونښانو بېلګې ووايئ؟

پـــــه نـــامـــه د هـغـه خـدا ی مـې دا بـيـان دی
چې يـو نـوم يـې په نـومـو نـوکـې سبـحـان دی
هـــم پـادشـاه دی د جـمـلـــه وو پـادشـاهـانـو
هـــم دهـــــر يـــوه سـلـطـان پـــه سر سلطـان دی
هـغـه کـــار چـې وهـــر چـــاوتـــه مـشـکـل دی
هـــغـــــه کـــــار واړه وده وتـــه آســـــــان دی
خـوک آفـتـــاب شـي پـر آسـمـان راخـپـژولـی
ده آفـتـــاب را خـــپـژولـــی پـــرآســـمـــان دی
خـوک دلـمـر پـــر مـخ حـجـاب شـي غـورځولـی
ده پـــټ کـــړی لـمـــر پـــه ابـــر کـــې پـنـهـان دی

(عبدالرحمن بابا)

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې دلوست په اړه څو پو ښتنې وکړي.
- ښوونکی دې نظم په لوړاواز ولولي .
- ښوونکی دې د نظم مطلب په ساده ژبه په نثر واړوي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. دلاندې کلمو معنی له یاده پیدا کړئ او د کلمو تر څنګ یې په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

- سبحان پاک
- سلطان
- حجاب
- ابر

۲. په لاندې کلمو کې عام او خاص نومونه وښیئ.

- کابل خاص
- ښوونکی
- کتاب
- خدای (جل جلاله)

دلوستل شوي نظم اصلي مفهوم په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

۳. دلاندې بیت مفهوم څه شی دی په خپلو کتابچوکې یې ولیکئ.

هغه کار چې وهرچاوته مشکل دی هغه کارواړه و ده وته آسان دی

ارزونه:

- آیا زده کوونکي شعر سم لوستلی شي؟
- دحمد په اړه خبرې کولی شي؟
- لوستل شوی شعر په نثر اړولی شي؟
- آیا زده کوونکي د کلمو مترادف شکل له یاده ویلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې دلوی خدای (جل جلاله) دقدرت دنښونښانو په اړه څو جملې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

دويم لوست

حضرت عثمان (رضی الله عنه)

موخه: دمتن لوستل، ليکل د حضرت عثمان (رضی الله عنه) پېژندنه او په متن کې دنومونو زده کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې حضرت عثمان (رضی الله عنه) څوک و؟
- حضرت عثمان (رضی الله عنه) زمور د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) څوم يار دی؟

حضرت عثمان (رضی الله عنه) د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) درېم يار دی، د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) له پيدا ايښت څخه پنځه کاله وروسته زېږيدلی دی دپلار نوم يې عفان و. حضرت عثمان (رضی الله عنه) د حضرت ابوبکر صديق (رضی الله عنه) په لار ښوونه داسلام په مبارک دين مشرف شو. د تقوا او حيا خاوندو. له ليک او لوست سره يې مينه درلوده، همدا راز يې په سخاوت کې شهرت درلود کله چې حضرت عثمان (رضی الله عنه) د اسلام په مبارک دين مشرف شو نو قرآن کريم يې په ياد زده کړ چې د هغه په پوهه کې يې لازيات توالی راوست او د ده دخلافت په موده کې قرآن کريم په يوه مصحف کې را ټول شو.

حضرت عثمان (رضی الله عنه) پرته له خلافت څخه سودا ګري هم کوله او له دې لارې څخه يې زياته حلاله شتمني پيدا کړه او خپله شتمني يې داسلام دمبارک دين په لاره کې لګوله. حضرت عثمان (رضی الله عنه) د حضرت عمر (رضی الله عنه) له شهادت څخه وروسته د مسلمانانو مشر وټا کل شو.

د خلافت په دوره کې يې ډير فتوحات کړي او خلک يې داسلام سپېڅلي دين ته را بللي دي او دده مبارک د خلافت په وخت کې افغانستان ته هم داسلام سپېڅلی دين راورسېد.

دولس ورځې کمې دولس کاله يې خلافت وکړ او په پای کې د باغيانو او اسلام د دښمنانو له لاسه په داسې حال کې په شهادت ورسېد چې د قرآن کريم تلاوت يې کاوه.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن په لوړ اواز ولولي.
- ښوونکی دې دمتن مطلب له زده کوونکو څخه وپوښتي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. لغتونه او معناګانې:

- تقوا پرهېزګاري
- سخاوت ځوانمردي، ورکړه
- خلافت استازیتوب، نیابت
- مصحف دقرآن کریم کتاب
- شتمني دارایي

۲. لاندې جملې ولولئ او نومونه په کې وښیئ! بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!
حضرت عثمان (رضی الله عنه) د حضرت ابوبکر صدیق (رضی الله عنه) په لارښوونه د اسلام په مبارک دین مشرف شو .

۳. په لاندې جملو کې د ربط توري و ښیئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
حضرت عثمان (رضی الله عنه) د حضرت ابو بکر صدیق (رضی الله عنه) په لارښوونه د اسلام په مبارک دین مشرف شو.

- د تقوا او حیا خاوند و.
- همدا راز یې په سخاوت کې شهرت درلود.
- له لیک او لوست سره یې مینه وه .

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- دحضرت عثمان په اړه یې پو هه حاصله کړه؟
- په جملو کې نومونه پیدا کولی شي؟
- د ربط توري په جملو کې پیدا کولی شي؟

کورنۍ دنده:

د متن نوې کلمې خپلو کتابچو ته ورسوئ او په جملو کې یې هم وکاروئ.

ketabton.com - The Digital Library

دريم لوست

غږ پوهنه

موخه: د متن لوستل، ليکل؛ د غږ پوهنې په معنا او مفهوم پو هېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې غږ پوهنه څه ته وايي؟
- غږ پو هنه څه شی څېړي ؟

غږ پوهنه : هغه پوهنه ده چې په ژبه کې د خبرو آوازونه څېړي.

لکه : مور_پلار _ خور_ ورور _ د(مور) کلمه دري غږونه (م، و ، ر) لري د (پلار) کلمه څلور غږونه (پ، ل، ا ، ر) لري د کاکا کلمه هم څلور غږونه (ک، ا ، ک، ا) لري او د(ماما) کلمه هم (م، ا ، م، ا).

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولوله او د غږيو هغې په اړه په کلمو کې ښېلګې وړاندې کړه.
- دغږونو د منځ ته را تللو په اړه خبرې او معلومات ورکړه.
- ښوونکی دې څو کلمې په تخته وليکي او پر زده کوونکو باندې دې کلموته بدلون ورکړي. لکه (لور) که د(ل) توري په ځای (ک) توری راشي د (کور) کلمه ترې جوړېږي چې په شکل کې هم بدلون راغی او د کلمې په معنا کې هم.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي او دهرې کلمې د لومړي توري په بدلون سره دې يوه بله معنا لرونکې کلمه ترې جوړه کړي.

(ناک، لور، نور، منډه، تېر، ګټه، جوړه، چم).

مثال: د (ناک) د کلمې د (ن) توري په ځای د (پ) توری وکارول شي د(پاک) کلمه ترې جوړېږي.

غږونه د سږو دهوا د را وتو په وسيله منځ ته راځي. هوا له سږوځخه راووځي او دستوني، مری، حنجرې، ژبې، تالو، سپږمو، غاښونو، ژبې او شو نډوسره داړيکو په وسيله آواز پيدا کيږي د مثال په توګه د (ب) او (پ) دتوروپه آوازونو کې شونډې ترل کيږي اوپه يوه وار ببرته کيږي دتلفظ په وخت کې خو له او شونډې پرانيستل کيږي او آواز له خولې څخه راووځي.

ارزونه:

- زده کوونکي په دې پوه شول چې غږونه له کوم ځای څخه را وځي؟
- زده کوونکو وکولی شول چې کلمو ته دتوري په بدلون بله معنا لرونکې کلمه جوړه کړي؟

کورنۍ دنده:

لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې د لومړي توري په بدلون نورې مناسبې سمې کلمې ترې جوړې کړئ!.

(کار – مار – نوک – کټ – مور – بل).

ketabton.com - The Digital Library

څلورم لوست

مېلمه پالنه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل؛ د مېلمه پالنې په دود او رواج پوهېدل او په متن کې د صفت کلمې په نښه کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- د مېلمه درناوی زمونږ په ملي دود کې ولې ارزښت لري؟
- که ستاسې کور ته مېلمه راشي دهغه څه ډول خدمت کوئ؟

مېلمه پالنه زمونږ په خلکو کې یو ډېر لرغونی ملي او دیني دود دی. افغانان

مېلمه ته په درنه ستر ګه ګوري او د خپل وس او توان په اندازه یې قدر، درناوی او خدمت کوي. او مېلمه دلوی خدای (جل جلاله) عطا ګڼي، که څه هم زمونږ د ځینو خلکو اقتصادي حالت ښه نه دی خو کله چې د چا کورته مېلمه راشي نو دهغه د قدر، درنښت او خدمت لپاره هر څه چې په کورکې لري په ډېر اخلاص یې پخوي او په ډېر عزت یې ورته په مخکې ږدي. همدا راز زمونږ خلک له خپلو مېلمنو سره په ورین تندي خبرې کوي په همدې توګه زمونږ خلک هېڅکله داسې حرکت نه کوي چې د مېلمه د خپګان سبب وګرځي او په ډېره مینه ورسره ناسته ولاړه کوي، ځکه دوی په دې باور لري، که چېرې مېلمه ورځخه خپه شو په حقیقت کې خدای (جل جلاله) او د هغه رسول (صلی الله علیه وسلم) ورځخه خپه شول.

لنډه دا چې مېلمه پالنه د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو یو غوره او ځانګړی صفت دی چې د نړۍ خلک تر ښه هم خبردي او زمونږ دغه ویاړلی دود په ډېر درناوي سره ستایي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- دمبلمه پالنې په اړه له زده کوونکو څخه معلومات وغواړئ چې هغوی په خپله خبرې وکړي.
- له متن څخه د بېلګې په ډول د (صفت) یوه کلمه د تختې پر مخ ولیکئ او زده کوونکي وهڅوئ چې په متن کې د صفت نورې کلمې په خپله پیدا کړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن له یو بل سره په چوپتیاولولئ!

۲. دمبلمه پالنې په هکله دې د ټولګي مخکې خبرې وکړي.

۳. په لاندې جملو کې د فعل او ضمیر کلمې وښیئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

- کله چې د چا کورته مبلمه راشي نو دهغه دقدر، درنښت اوخدمت لپاره هرڅه چې په کور کې لري په ډېر اخلاص یې ورته پخوي او په ډېر عزت یې دهغه په مخکې ږدي.
- خلک دخپلو مېلمنو سره په ورینه ټنډه خبرې کوي او د هغوی د حال او احوال پو ښتنه کوي.

۴. لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې دلومړي توري په بدلون داسې بله کلمه ترې جوړه کړئ چې معنا لرونکې وي.

لکه: (کور- پور- حال - مینه - حرکت)

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د مېلمه پالنې په اړه په شفاهي توګه معلومات وړاندې کولی شي؟
- په جملو کې یې د صفت کلمې پیدا کړی شوې؟
- په ورکړل شوو جملو کې یې د فعل او ضمیر کلمې پیدا کړی شوې ؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې د مېلمه پالنې په اړه اووه کرښې ولیکئ!

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

مترادفي (هم معنا) کلمې

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د مترادفي کلمې پر معنا او مفهوم باندې پوهېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- مترادفي کلمې څه ډول کلمو ته ويل کېږي؟
- ايا څوک د مترادفي کلمې بېلګې يادولی شي؟

مترادفه کلمه : هغه کلمه چې په شکل اوښه کې سره تو پيرلري او معنا يې سره ورته وي مترادفه کلمه بلل کيږي.

لکه: په لاندې کلموکې چې مترادفي کلمې ليدل کېږي.

کوښښ	زيار
ښکلی	ښايسته
تيږه	ډبره
نړۍ	دنيا ، جهان
لوی	غټ

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ اواز ولوله.
- دمترادفي کلمې په اړه معلومات له بېلګو سره ورکړه.
- زده کوونکي وهڅوئ چې نورې مترادفي کلمې له يادې ووايي او هم يې معنا پيدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

دزده کوونکو فعالیتونه :

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. لاندې جملې دې په خپلو کتابچو کې وليکي او تر مترادفو کلمو لاندې دې کرښه وکاږي.

- انسان چې روغ او جوړ وي ښه کار کولای شي.
- زرغونه دأز مويني په تېرولو ډېره خوشحاله آوخوښه ښکاري.
- زمور دپښتو ښوونکی پاک او سپېڅلی ځوان دی.

۳. د لاندې کلمو مترادفې يا هم معنا کلمې له چوکاټونو څخه پيدا او د کلمو تر څنګه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ډېر ----------	هېواد	وظيفه	ښايسته
وطن ----------			
دنده ----------	زيات	شاوخوا	
چاپېريال _____			
ښکلی _____			

۴. لاندې متن ولولئ! مترادفې کلمې په کې پيدا او په خپلو کتابچو کې وليکئ!

رنګينه او امين خوراو ورور دي .دوی په يوه شنه او زرغون بن کې خوښ او خو شحاله روان وو. هغوی ښکلي او ښايسته کالي اغو ستي وو. دواړه په بن کې داسې ښکاربدل تا به ويل چې هېڅکله يې ناروغتيا اوناجوړتيا نه ده ليدلې او تل همداسې روغ او جوړدي. دبن په هره خوا کې خوښي او خو شحالي وه. هرې خواته د مر غيو چغهار، سندرې اوناړې وې. ورو ورو رڼا مخ په کمبدو شوه. هره خوا تپه تياره او تور تم شو ، په آسمان کې برېښنا شوه. باران په اورېدو پيل وکړ. رنګينه او امين دواړه په ځغاسته او منډه کورته لاړل.

ارزونه:

- څوتنه زده کوونکي دې ځواب ورکړي چې مترادفې کلمې څه ډول کلمې دي؟
- څوتنه زده کوونکي دې يو بل ته مترادفې کلمې ووايي او بل تن دې دهغو کلمو هم معنا پيدا کړي.
- ايا زده کوونکی دمترادفو کلمو په معنا او مفهوم پوه شول؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې څو مترادفې کلمې وليکئ. معنا يې پيدا او بيايې په جملو کې وکاروئ.

ketabton.com - The Digital Library

شپږم لوست

غوره ويناوي

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، دغوره ويناپه مطلب پوهېدل، په هغو عمل کول او په ويناووکې د مترادفو کلمو په نښه کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- آيا تاسو له چا څخه غوره ويناوې اوريدلې دي؟ که مو اوريدلې وي ويې وايئ؟
- غوره ويناوې کومو ويناوو ته وايي؟

۱- هسې رښتيني ملګري وموميئ چې په نښه ورځ مو مجلس پرې ښايسته وي او په سخته ورځ مو ملا تړې شي.

حضرت عمر (رضی الله عنـه)

۲- هر څوک چې زموږ عيبونه را ښيي پاک خدای (جل جلاله) دې پرې ورحميږي.

حضرت عمر (رضی الله عنـــه)

۳- غم او نهيلي د بېکاره خلکو صفتونه دي.

حضرت علي کرم الله وجهُـه

۴- د سړي قدر د هغه د علم او ادب په اندازه په کار دی، نه د هغه د شتمنۍ او نسب له مخې.

حضرت علي کرم الله وجهُـه

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- غوره ويناوې ولوله او په مطلب يې خبرې وکړه!
- له زده کوونکو څخه د غوره ويناوو مطلب په هکله پوښتنې وکړه!

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. غوره ويناوې په چوپتيا سره ولولئ!

۲. دهر ګروپ يو کس دې د ټولګي مخکې ديوې وينا په مطلب خبرې وکړي.

۳. دلاندې کلمو هم معنا پيدا اوپه خپلو کتابچو کې وليکئ.

(ملګري، مجلس، ښايسته، عيبونه، پاک، غم، صفتونه، قدر، علم، شتمنۍ، تلاوت، عبادت ، نهيلي)

۴. غوره ويناوې ولولئ او بيا د هرې وينا مطلب په خپلوکتابچو کې وليکئ.

ارزونه:

- ايا زده کوونکي متن سم لو ستلی شي؟
- دغوره ويناوو په مطلب پوه شوي او خبرې پرې کولی شي؟
- دورکړل شوو کلمو هم معنا يې پيدا کړای شي؟

کورنۍ دنده:

لاندې نوي لغتونه په خپلو کتابچو کې وليکئ او په جملوکې يې وکاروئ.

(عيبونه، نيمګړتياوې، عبادت، ناهيلي، نا اميدي)

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

بي بي عايشه (رضی الله عنها)

موخه: د متن لوستل ، ليکل، دبی بی عايشی رضی الله عنها په اړه معلومات او په متن کې د صفت د کلمو په ګوته کول دي.

هڅو ونکې پو ښتنې:

- ويلای شئ چې بي بي عايشه (رضی الله عنها) څوک وه ؟
- بي بي عايشه (رضی الله عنها) زمونږ د ګران پيغمبر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) څه کيده؟

د مسلمانانو مور بي بي عايشه (رضی الله عنها) د حضرت ابوبکر صديق (رضی الله عنه) لوروه ، چې په مکه معظمه کې زېږېدلې او حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د بي بي خديجې (رضی الله عنها) تر وفات وروسته ورسره واده وکړ. له حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) څخه يې د ديني علم زده کړ. داډېره پوهه او عالمه بي بي وه.

ډېرو ښځينه مسلمانانو او اصحابو کرامو به له هغې څخه ديني مسايل زده کول او دسختو مسئلو پو ښتنې به يې ور څخه کولې. داهم ديا دولو وړده چې زيات شمېر احاديث تر ې روايت شوي دي، د الله (جل جلاله) د کتاب د علم په وسيله خلک ډېرو لوړو مرتبوته رسېدلي دي. په يوه حديث شريف کې دا موضوع داسې بيان شوې ده:

((د علم زده کړه په هر (نارينه او ښځينه) مسلمان باندې فرض ده.))

بي بي عايشه (رضی الله عنها) هم د علم او پوهې په برکت دغې لوړې درجې او مقام ته رسېدلې وه.

بي بي عايشه (رضی الله عنها) د (٦٢) کالو په عمر په مدينه منوره کې وفات او هلته خاورو ته وسپارل شوه.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولولئ!
- ښوونکی دې دبي بي عايشې (رضی الله عنها) په اړه له زده کوونکو څخه معلومات وغواړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن په چوپتیا سره د یو بل په مرسته ولو لئ!

۲. دلاندې جملو تش ځایونه په درکړل شوو مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړئ!

- بي بي عايشه (رضی الله عنها) په مکه معظمه کې زیږیدلې.... (ده، دی)
- له حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه يې ------ علم زده کړ. (ديني ، اخلاقي)
- داډېره پوهه او عالمه بي بي ---------. (دی ، وه ، ده).
- ډېرو ښځينه مسلمانانو او اصحابو کرامو به له هغې څخه ديني مسايل ----------.
- (زده کول ، يادول)

۳. لاندې جملې ولولئ ، په خپلو کتابچو کې يې وليکئ او بيا د صفت کلمې لاندې کرښه وکاږئ.

- داډېره پوهه او عالمه ښځه وه.
- بي بي عايشه (رضی الله عنها) د علم او پوهې په برکت دغې لوړې درجې او مقام ته رسېدلې وه.

ارزونه :

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- دبي بي عايشې (رضی الله عنها) په هکله معلومات ورکولی شي؟
- دجملو تش ځايونه په مناسبو کلمو ډکولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د بي بي عايشې (رضی الله عنها) په هکله يوه لنډه مقاله وليکي چې له شپږو کرښو څخه لږه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

اتم لوست

متضادي کلمې

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، او د متضادي کلمې په معنا او مفهوم پوهیدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- تاسو په مخکې ټولګیوکې متضادي کلمې لوستلې دي؟ که مو لو ستلی وي څو بېلګې یې ووایئ!
- ستاسې په نظر متضادي کلمې څه ډول کلموته وایي؟
- آیا کولی شئ چې څو متضادي کلمې پر تخته ولیکئ؟

متضادي کلمې : هغه کلمې دي چې د معنا له پلوه یوه د بلې ضد وي. لکه په دې کلمو کې:

(تور ـ سپین) (ژړا ـ خندا) (اور ـ او به)

لاندې جملې ولو لئ او هغو کلمو ته ځیر شئ چې کرښه ورلاندې ایستل شوې ده.

- د پسرلي په سرکې شپه او ورځ سره برابره وي.
- په ژمي کې هوا سړه وي او انسان توده هوا خوښوي.

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښاغلی ښوونکی دې متن ولولي.
- د متضادو کلمو په اړه دې معلومات ورکړي او بېلګې دې له زده کوونکو څخه و غواړي.

دزده کوونکو فعالیتونه :

۱. لاندې بیتونه ولولئ او په خپلو کتابچوکې یې ولیکئ! تر متضادو کلمو لاندې کرښه وکاږئ!

کار ګران مو شپه او ورځ په کارلګیا دي
د هېواد سختو دردونو ته دوادي
دژوندون سړي تودې زغمي په مینه
دو طن د ابادۍ لار کې فنا دي

(محمد عثمان نژند)

ketabton.com - The Digital Library

۲. تاسې هم ددې چوکاټ په څېر په خپلو کتابچو کې یو چوکاټ جوړ کړئ او بیا د هرې کلمې په مخ کې یې ولیکئ.

سپین :	تور
ډېر :	
غښتلی :	
یووالی :	
ښکلا :	

۳. د لاندې جملو د نښه شوو کلمو ضد په چوکاټ کې پیدا کړئ او د جملو تر څنګ یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

لږ ، واړه ، بدرنګ ، تاوان

- په افغانستان کې لوی او واړه غرونه (ډېر) دي. ـــــــــــ کم ـــــــــــ.
- دغو غرونو زمونږ هېواد (ښکلی) کړی دی. ـــــــــــ.
- زمونږ په هېواد کې (لوی) غرونه هم ډېر دي ـــــــــــ.
- زمونږ دهېواد غرونه مونږ ته ډېره (ګټه) لري ـــــــــــ.

ارزونه:

- زده کوونکي دمتضادې کلمې په معنااو مفهوم پوه شول؟
- ایا زده کوونکي دمتضادو کلمو په هکله خبرې کولی شي؟
- زده کوونکو وکولی شول چې متضادې کلمې په جملو کې وکاروي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچوکې څو متضادې کلمې ولیکي او بیا دې په جملو کې وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

معیوب هلک

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د معیوب هلک حقونوته درناوی کول او د نویو کلمو په معنا پوهېدل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- تاسې د معیوبینو په هکله څه ویلی شئ؟
- مورِ باید له معیوبو خلکو سره څه وکړو؟

حبیب په یوه پښه معیوب دی دوه کاله مخکې کله چې هغه له خپل پلار سره کروندې ته روان و، په یوه ماین برابر شو او په دې پښه کې یې خپله پښه له لاسه ورکړه. هغه ډېره موده غمجن و، ځکه هغه نه شو کولی چې له نورو هلکانو سره لوبې وکړي.

د حبیب ځینو ملګرو له ده سره ملګرتیا پرېښوده د حبیب څوښه ملګري د هغه په حال خواشیني وو. هغوی دا فکر وکړ چې څنګه له حبیب سره مرسته وکړي. هغوی داسې لوبې پیل کړې چې په هغو کې حبیب هم برخه اخیستلی شوه.

ناصر د حبیب همزولی و. هغه ته دا ښکاره وه چې حبیب له زده کړې سره ډېره مینه او علاقه لري. هغه حبیب د ښوونځي تللو ته و هڅاوه. اوس حبیب په پنځم ټولګي کې دی او ښوو نځي ته د لکړو په مرسته ځي، حبیب په درسونو کې ډ پر تکړه دی. له نورو زده کوونکو سره هم په درسونو کې مرسته کوي. ټول ښوونکي له هغه څخه ډېر خوشحاله دي. د حبیب کورنۍ، ملګري او ښوونکي له ده سره ډېره مینه لري. ځکه حبیب ډېر زیار باسي او د ژوند په هره برخه کې بریالی دی. حبیب وایي زه به په راتلونکي کې د معیوبینو د مرستې لپاره ډېر خدمتونه وکړم. اوس حبیب د روغو هلکانو په څېر ژوند کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- د معیوبینو سره د مرستې په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړه!
- زده کوونکي و هڅوه چې په دې اړه د ټولګي په مخکې خبرې وکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن دې په لوړ اواز ولولي.

۲. دلاندې نووکلمو هم معنا له چوکاټ څخه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې د کلمو ترڅنګ ولیکئ.

معیوب _____
خواشینی _____
پیل _____
وهڅاوه _____

تشویق یې کړ
عیبي
خپه
شروع

۳. لاندې جملې ولولئ! په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ او د ضمیر تر کلمو لاندې کرښه وکاږئ.

- هغه له خپل پلار سره کروندې ته روان و.
- د حبیب څو ښه ملګري د هغه په حال خواشینی وو.
- هغوی داسې لو بې پیل کړې چې په هغو کې حبیب هم برخه اخیستلی شوه.

۴. پو ښتنې:

- حبیب څه شي له کبله معیوب شوی و؟
- هغه ولې غمجن و؟
- حبیب له کومو لوبو څخه خوشحاله شو؟

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- دنو یو کلمو هم معنا پیدا کړی شوې؟
- په جملو کې یې د ضمیر کلمې پیدا کړې؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې د معیوبینو په هکله شپږ کرښې مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

لسم لوست

ملي يووالى

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د نظم په معنا او مفهوم پوهېدل او په متن کې د متضادو کلمو په نښه کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ملي يووالى څه ته وايي؟
- د ملي يووالي په ارزښت خبرې وکړئ؟

هره پانه يې لايقه دستاينې
په يو باغ کې وې ولاړې ډېرې ونې

په يوه هواکې ټولې لويېدلې
له يوې ويالې اوبه ورته راتللې

نښه او بديې وو شريک يو يې واکدارو
ددې ټولو يو خزان او يو بهارو

لکه ګوتې ديوه وجود دلاس وي
ځينې جګې ځينې ټيټې کوز او پاس وي

د منې او ناک توپيرله و را معلوم و
چنار لوړ و شفتالو لکه ماشوم و

هر مرغه مو پيژانده له خپل آوازه
د مرغانو وې نغمې پکې څورازه

لکه وي چې ولسونه په وطن کې
رنګارنګ ګلونه وو يوه چمن کې

مالیار و په هره ونه ډېر زهیر
په حقونو کې يې نه وخه توپير

په تمامه معنا يو واحد ملت و
يو له بله يې په هرڅه کې شرکت و

پکې هر قسمه ګلونه بوټې ګوره
لکه باغ يو مملکت وګڼه وروره

بېل رنګونه، بېل غږونه، بېل خويونه
دوه سکه ورونه لري بېل بېل نومونه

مګر دواړه اوسيدونکي ديو کوروي
د يوې سترګې په کور کې سپين او توروي

ګل پاچا الفت

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ اواز ولوله!
- شعر معنا کړه او په مفهوم يې رڼا واچوه!
- پر زده کوونکو باندې په شعر کې متضادې کلمې پيدا کړه! او پرتخته يې ور باندې وليکه!

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. دلاندې کلمو متضادې کلمې پيدا او په خپلو کتابچو کې يې د کلمو تر څنګ وليکئ او بيا يې په جملو کې وکاروئ!

الف: ښه _____ ت: جګې _____ هـ: شپه _____

ب: بهار _____ د: لوی _____

۲. دلاندې پوښتنو سم ځوابونه وټاکئ.

- له جګو اوټيټو ونو څخه مطلب څه دی؟

الف) د ملي يووالي ښېلګې پېژندل.

ب) د مشرانو او همزولو پېژندل.

۳. ددې نيم بيتي مطلب څه دی؟ ((د مرغانو وې نغمې پکې څورازه))

الف: د شعرونو او سندرو ډولونه.

ب: د مرغانو خبرې کول.

۴. ددې نيم بيتي مطلب څه دی؟ ((رنګارنګ ګلونه وي يوه چمن کې))

سم ځواب يې په ننبه کړئ او بيا يې خپلو کتابچو کې وليکئ.

الف: د نرګس، غاټول او ګلاب ګل ونه دي.

ب: په يوه وطن کې د ښلابښلو قومونو ګډ اوسېدل دي.

ج: د چمن د ګلانو پېژندنه ده.

ارزونه:

- زده کوونکي شعر روان اوسم لوستلی شي؟
- ايا د شعر په اصلي مفهوم خبرې کولی شي؟
- په لوستل شوي شعر کې د متضادو کلمو ضد له يادې پيدا کولی شي؟
- زده کوونکي ددې وړتيالري چې د بيتونو د مطلب په هکله خبرې وکړي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د يووالي په هکله څو کرښې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

يوولسم لوست
متشابه کلمې

موخه: دمتن سم لوستل، ليکل او د متشابه کلمو په معنا او مفهوم پوهيدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- متشابه کلمې (ورته کلمې) څه ډول کلمې دي؟
- د متشابه کلمو ښېلګې څوک ويلی شي؟

متشابه کلمې: هغو کلموته وايي چې په ليکلو کې يو بل ته ورته وي خو په معنا کې سره توپير ولري، لکه په لاندې بيت کې چې ليدل کېږي:ـ

لکه په دغو جملو کې:

۱. ولې دې له ولي څخه داسې وپوښتل؟

۲. زه تل هڅه کوم چې د خبرې تل ته ځان ورسوم.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ اواز و لولئ.
- د متشابه کلمې په اړه معلومات ورکړه او څو متشابه کلمې پر تخته وليکه!

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن ولولئ او د متشابه کلمې تعريف له ياده زده کړئ!

۲. لاندې جملې ولولئ او د هغو کلمو معنا ګانو ته ځير شئ چې کرښه ورلاندې ايستل شوې ده.

- دبزګر لور په لوکې مات شو.
- انارګل زما کين لور ته ناست دی.
- توريالي وويل، «چې دا پښتې ډپرسپک دی.
- سپک سړی د چانه خوښيږي.
- وږمې دروند پښتی جګ کړ.
- دروند انسان د هر چا خوښيږي.
- پيل د بزګر لپاره ضروري آله ده.
- اخک د خپلې کورنۍ څخه پيل ژوند کوي.

۳. په لاندې بيتونوکې د کومو کلمو لاندې چې کرښه ايستل شوې ده تاسو يې بله معنا پيدا او په جملو کې يې وکاروئ.

سور د تور سره هيڅکله نه جوړيږي — دا قانون د طبيعت دی چې چليږي
خو انسان چې بيا په تور کله تورن شي — خړ به ګر ځي بيا هيڅکله نه سپينيږي

(جلاد حکمتي)

۴. لاندې کلمې ولولئ او بيايې په بيلا بيلو معنا ګانو کې وکاروئ کومې دي؟

ارزونه:

- زده کوونکي ويلی شي چې متشابه کلمې څه ډول کلمو ته وايي؟
- ايا زده کوونکو په جملو کې متشابه کلمې وپېژندې او دهرې کلمې په معنا پوه شول؟
- څوتنه زده کوونکي دې په لوستل شوو بيتونو کې د متشابه کلمو معنا ګانې په شفاهي توګه ووايي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متشابه کلمې تعريف په ياد زده کړي او بېلګې دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

دولسم لوست

ملګري ملتونه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د ملګرو ملتونو پيژندل او د ملګرو ملتونو د دندو په اړه معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ايا ويلی شئ چې ملګري ملتونه څه ډول سازمان دی؟
- د ملګرو ملتونو د سازمان اصلي موخه څه ده؟

«ملګري ملتونه» يو نړيوال سازمان دی چې په **۱۹۴۵** ع کال کې يې ديو شمېر هېوادونو له خوا بنسټ ايښودل شوی دی. د دغه نړيوال سازمان د جوړيدو اصلي موخه داده چې د کړکيچونو، جګړواو نښتو مخنيوی وکړي او د بيلابيلو هېوادونو ترمنځ د پوهاوي او سوله ييز ژوند لارې چارې برابرې کړي. دغه سازمان له جوړيدو څخه ترنن پورې د نړۍ په ډېروسيموکې جګړې او شخړې د پوهاوي له لارې حل کړي. د شخړو او ستونز و پرحل سر بېره د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونوکې يې ډېرې ودانۍ، روغتيايي او پرمختيايي پروژې هم بشپړې کړي دي. دا سازمان ببلابېلې څانګې لري چې يونيسف اود مهاجرينو عالي کميشنري يې لويې څانګې دي: د مهاجرو عالي کميشنري د نړۍ په زياتو هېوادونو کې د جګړو، طبيعي پېښو لکه زلزلو، سېلابونواو نورو ستونزو له کبله له بې ځايه شوو او بېرته ستنېدونکو خلکو او مهاجرو سره مرسته کوي.

يونيسف د ماشومانو او ځوانانو دښوونې او روزنې او دهغوی د پالنې په برخه کې مرستې کوي. دغه راز دا څانګه ماشومانوته خواړه، روغتيايي درمل او به اونور مواد هم برابروي.

له دغو دووڅانګو پرته دملګرو ملتونو سازمان نورې څانګې هم لري چې هغه دادي:

۱- د خوړو نړيوال سازمان چې غذايي مواد برابروي او د کرنې او مالدارۍ سازمان چې د کرنې ببلابېل تخمونه او دمالدارۍ چاروته وده ورکوي داسازمان له کروندګروسره مرسته کوي.

۲- د روغتيايي چارو نړيوال سازمان چې په سيمه ييزو صحي چارو کې مرسته کوي.

۳- يونسکو چې د تعليمي، علمي او کلتوري برخو مسؤوليت پر غاړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ اواز ولولئ!
- د ملګرو ملتونو په هکله دزده کوونکو له سویې سره سم معلومات ورکړئ!

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. لاندې نوې کلمې په چوکاټ کې معنا شوې دي تاسوې يې په جملو کې وکاروئ!

هدف	موخه
غذا	خواړه
شخړو	جګړو
ستونزو	مشکلاتو
کړکېچونو	جنجالونو

۲. يونيسف څه فعاليتونه ترسره کوي؟ په خپلو کتابچو کې يې ځواب په څو کرښو کې وليکئ.

۳. د لاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو په خپلوکتابچو کې ډک کړئ.

الف: ملګري ملتونه يو _____ سازمان دی.

ب: ددغه نړيوال سازمان د جوړېدواصلي هدف دادی چې دکړکيچونو،جګړو،او نښتو _____ وکړي.

ج: د کرنې او مالداري سازمان د _____ تخمونو په برابرولو کې مرستې کوي.

د: يو نسکو د _____ ابداتو څارنه کوي.

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکي نوې کلمې په جملو کې کارولی شي؟

کورنۍ دنده:

په خپلوکتابچو کې د ملګرو ملتونو په هکله څوکرښې مقاله وليکئ!

ketabton.com - The Digital Library

دیارلسم لوست

متلونه

موخه: د متن لوستل، لیکل، د متلونو په معنا او مفهوم پوهېدل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ستاسو په نظر متل څه ته وایي؟
- څوک کولی شي چې متل ووایي؟

متلونه هغه پراخې مفهوم لرونکې، لنډې او زیاتره په وزن برابرې ویناوې دې چې دیوې خبرې د ټینګار او ښکلا لپاره په خبرو کې ویل کېږي او دټولنې د تجربو زېرنده وي . په متل سره دیوې ټولنې فکرونه او دودونه له یوه نسل څخه بل ته او له یوه ولس څخه بل ولس ته لیږدول کېږي او دخبرو ښکلا پرې زیا تیږی او پر مخا مخ لوري سمدلاسه اغېزه کوي. په خلکو کې مشهوره ده چې په هر متل کې د یوه کتاب مفهوم پروت دی:

(څه چې کرې هغه به رېبې)

نړۍ د پټې مثال لري او دانسان ټولې چارې او کړه وړه دتخم په څېر دي . انسان چې په دنیا کې هرڅه کوي اوهره چاره چې سر ته رسوي هرو مرو به د خپلو کړو پایله تر لاسه کړي. که یې ښه کړي وي ، نو ښه به ترې اخلي اوکه یې بد کړي وي نو بد حاصل به ترې اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولوله!
- د متلونو په هکله د زده کوونکو له سويې سره سم معلومات ورکړه!
- له زده کوونکو څخه وغواړه چې متلونه ووايي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن په چوپتيا سره ولولئ!

۲. په لاندې جملو کې متل په نښه کړئ او بيا يې په کتابچو کې وليکئ.

- په يوه ګل نه پسرلی کېږي.
- کوږ بار تر منزله نه رسيږي.
- د اوبو څاڅکي باران جوړوي.

۳. لاندې متلونه ولولئ او مطلب يې په خپلو کتابچو کې وليکئ:

- خدايه لوی مې کړې لويي رامه کړې.
- له لوړې مړ شه خو د منت دارو مه خوره.
- د ورغوي تڼاکه مرغلره ده.
- اول سلام پسې کلام.

ارزونه:

- ايا زده کوونکي متن سم لو ستلی شي ؟
- دمتل په معنا او مفهوم پوه شول؟
- د متل په هکله خپل معلومات وړاندې کولی شي ؟
- ايا په دې وپوهېدل چې هر متل ځانته دکارولو ځانګړی ځای لري؟

کورنی دنده :

که غر لوړ دی په سر يې لار ده) يعنې څه؟ مطلب يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

څوارلسم لوست

څپه (هېجا - سېلاب)

موخه: د متن لوستل، ليکل، د څپې په معنا او مفهوم پوهېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې څپه يا هجا څه ته وايي؟
- آيا تاسې کومه کلمه په څپو اړولی شئ؟

(څپه، هېجا يا سېلاب) د اوازونو دبند ښت له مخې ديو ې کلمې بيلولو ته هيجا وايي . ديوې کلمې دڅپو شمېر د همغې کلمې د غږونو په شمېر پورې تړلی دی. لکه په لاندې کلمو کې مثالونو ته ځيرشئ.

پښتانه – درې برخی يعنې پښ / تا /نه درې څپې لري، (بزګر) – دوې برخې يعنې بزګر دوې څپې لري (بڼ – يوه برخه يعنی يوه څپه لري.

لاندې متن ولولئ! هغو کلموته ځير شئ چې کرښه ورلاندې اېستل شوې ده. تاسو يې هيجا کړئ!

نن زلمي او دده خور ملالی دښوونځي د اداري په لارښوونه ګډ کار وکړ. له نورو زده کوونکو سره يې دښوونځي چاپېريال او ټولګي پاک کړل.
زده کوونکي له خپلو ښوونکو سره په ډېره مينه دښوونځي په پاکوالي بوخت وواو په پای کې يې خپل ښوونځی پاک او سوتره کړ، دزلمي او ملالی دا کار ډېر خوښ شو. کله چې دوی له کار څخه وزګار شول او ببرته کورته راغلل، نو داکيسه يې خپلې مور او پلار ته وکړه .
پلار يې هغوی ته وويل : بچيانو داډېر ښه کار دی مورِ بايد خپل کور ، کلی، ښوونځی او خپل هېواد دمټوپه زور پاک او سو تره وساتو او هڅه وکړو چې د کور کلي او هېواد په سمسورتيا کې په ګډه نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړو چې زمورِ و ېجارِ هېواد بيا ودان او سمسورشي او زمورِ خلک له بد بختی څخه وژغورل شي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن په لوړ اواز ولولي.
- ښوونکی دې دځپی په اړه معلومات ورکړي او دکلمو دځپو یا هیجا په کارولو کې دې زده کوونکي وهڅوي چې دکلمو هیجاوې مشق او تمرین کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن ولولئ!

۲. زده کوونکي دې په ډلو کې لاندې کلمی په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې ووایي چې څو څپی لري.

سر	مخ	لاس	قلم	کتابچه	پوهنځی
رڼا	ورځ	شپه	تولە	درملتون	
کړاو	لار	څوکۍ	پښې	تېتار	لوګری
وړمه	ښوونکی	مېوه	مڼه	خټکی	

۳. زده کوونکي دې یو بل ته څو کلمې املا ووایي او بیا دې کلمې په څپو واړوي او څپې دې وشمېري.

ارزونه:

- له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې څپه یا هیجا څه ته وایي؟
- زده کوونکي دې په خپله خوښه څو کلمې په کتابچوکې ولیکي بیادې په څپو واړوي.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د کارټونو لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په څپو واړوي. څپې دې وشمېري اوبیا دې په جملو کې وکاروي.

شپږ	سپین	ښایست	خوښ	ودان

ketabton.com - The Digital Library

پنځلسم لوست

بشر دوستي

موخه: د متن لوستل، ليکل او د بشر دوستۍ په مفهوم پوهېدل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ويلی شئ چې بشر دوستي څه ته وايي؟
- ايا تاسې له بې وزلو سره د خپل توان په اندازه مرسته کوئ؟ او ولې؟

څرنګه چې انسان په ټولنيز چاپېريال کې اوسيږي او په کلیو، باندو او ښارونو کې ژوند کوي بايد په ټولو چارو کې له يو بل سره، همکاري او مرسته وکړي. دستونزو او کړاوونو په وخت کې خوا خوږي ولري، که چېرې يوناروغ ووينې هغه بايد سمدلاسه روغتون ته ورسوي. که د درملو د اخيستلو پيسې ورسره نه وي، د خپل وس او توان په اندازه دې نغدې پيسې ورکړي. همدا راز د خپلو خپلوانو او ګاونډ يانو د حال او احوال څخه ځان خبروي او په ډېره مينه دې تر ې دروغ ناروغ پوښتنه وکړي. په کشرانو دې شفقت او رحم کوي او د مشرانو درناوی دې خپله انساني دنده وبولي، څرنګه چې مور انسانان يو، دا دانسانيت دنده ده چې دنړۍ د ټولو انسانانو سره مينه خپله بشري فريضه وبولو.

هرانسان د قدر او درناوي ور دی. ناپوهو کسانو ته د سمې لارې لارښوونه وکړو. د غچ اخيستو په ځای د بخښنې روحيه په ځان کې وروزو، ځکه چې اصلي خوښي او نېکمرغي په بخښنه کې ده نه په غچ اخيستلو کې. له هر انسان سره بايد په خوږو الفاظو خبرې وکړو.

د خپل بدن په وينه او رګونو کې انسان دوستي وروزو، ځکه داد انسانيت تر ټولو غوره مقام دی. د انسان ژوند يوازې د دې لپاره نه دی چې خپل ځان سوکاله کړي، بلکې د نورو سوکالۍ ته هم په ډېر ارزښت قايل شي، لنډه دا چې د انسانيت او بشر دوستي له خپل همنوع سره د زړه له کومې خواخوږي ده، مور بايد د ټول بشر يت په غم او ښادۍ کې خپل ځان شريک وبولو، دا ځکه چې له نورو سره مينه د خپل ځان سره د مينې او محبت معنا لري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې :

- متن ولوله!
- نوې کلمې پرتخته ولیکه او معنا یې کړه!
- په زده کوونکو باندې دمتن څو جملې املاء ولیکه!

د زده کوونکو فعالیتونه :

۱. زده کوونکي دې متن د یو بل په مرسته په چوپتیا سره ولولي.

۲. دلاندې کلمو مترادف له یاده په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

تولنیز	چارو	شفقت	چاپېریال	کړاوونو	درناوی
ګډ	ګاونډیانو	دنده	غږ	سوکاله	

۳. په لاندې کلمو کې د ربط توري پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

کې	او	په	وس	هغه	څخه
چې	ورکړې	یو	مرسته	سره	هم

۴. په خپلو کتابچو کې لاندې قوسونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

الف : هر انسان دقدر او درناوی ور_____ . (ده ، دي ، دی)

ب: له هرانسان سره په کړووړوکې په خوږو الفاظو خبرې _____ . (وکړو ، کول)

ارزونه:

- ایا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- دبشر دوستۍ په معنا او مفهوم پوه شوي او خبرې کولی شي؟
- دمترادفو کلمو هم معنا یې له یاده پیدا شوې؟
- په ورکړل شو یو کلمو کې یې د ربط توري په ګوته کړل؟

کورنۍ دنده:

دبشر دوستۍ په هکله په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ!

ketabton.com - The Digital Library

شپاړلسم لوست
آزادي

موخه: د شعر لوستل ، ليکل او د آزادي په هکله معلومات ورکول او د نويو کلمو په معنا پوهېدل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- تاسې د آزادۍ په معنا او مفهوم پوهيږئ؟
- آيا د آزادۍ په هکله څه ويلی شئ؟

په شړۍ کې ښه يم زه آزاد فقير نه وربښمو کې چنجی غوندې اسير
په خامتا کې حُر آزاد ښه دی سل ځله له غلامه چې لباس يې وي حرير
د وژغنو په کيږدۍ کې که آزاديم يو ويښته به يې ور نکړم په کشمير
په ويجاړه کې مرغه ځاله کې خوښ وي په قفس کې د سرو زرو وي زهير
چې مرغان په هوا وينم چرګ په ځمکه راته ياد د اسارت شي بد تاثير
همېشه اسير مرغه دی خوړل شوی او بڼکې يې بالښت د خان او مير

له لېندۍ د اسارته چې څوک خلاص شي
بې وزره په هوا ځي لکه تير

(ګل پاچا اُلفت)

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- شعر ولوله! او معنا يې کړه!
- د شعر په مطلب باندې معلومات ورکړه!

دزده کوونکو فعاليتونه :

۱. زده کوونکي دې شعر ولولي.

۲. زده کوونکي دې د لوستل شوي شعرمطلب په خپلو کتابچو کې په نثر واړوي.

۳. لغتونه او معناګاني:

فقير - غريب

اسير - بندي

حُر - آزاد

زهير - ناتوانه

ارزونه :

- آيا زده کوونکی شعر سم لوستلی شي؟
- د موضوع په مطلب پوه شول؟
- دشعر په مطلب خبرې کولی شي؟

کورنی دنده :

زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په جملو کې وکاروي.

(اسير_ ويجاړه_ اسارت_ زهير_ تاثير _ حرير)

ketabton.com - The Digital Library

اوولسم لوست

د نومونو جوړښت (ساده نوم)

موخه: د متن سم لوستل، ليکل د ساده نوم پيژندل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ساده نوم څه ډول نوم ته وايي؟
- کومې شئ چې څو ساده نومونه ووايئ؟

ساده نوم: هغه دی چې له يوې واحدې کلمې څخه جوړ شوی وي لکه: کتاب، قلم، زړه، خندا.

لاندې متن ولولئ! هغه ساده نومونه چې کرښه ورلاندې ايستل شوې ده په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

په کلي کې ژوند

په اوړي کې د کلي باغونه ښکلي اوخوندوري مېوې لري. بريالی د رخصتيو په ورځو کې له خپل پلار سره کلي ته ځي، هلته په خپل بن کې له پلار سره کار کوي. دراتګ په وخت کې د خپلې مورلپاره: منې، ناک او زردآلو راوړي.
په کليو کې ژوند خوندکوي. ځکه د کلي چاپېريال سمسور وي او د خلکو ګڼه ګونه هم زياته نه وي باغونه او شنه چمنونه پکې وي. لښتي او چينې هرې خواته بهيږي چې انسان يې له ليدلو څخه خوند اخلي. په کليو کې ښځې له خپلو مېړونو سره د کرنې په چارو کې پوره مرسته کوي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په مناسب اواز ولولئ!
- دساده نوم ببلګې په تخته وليکئ او دهغو په هکله معلومات ورکړئ!
- د څو جملو املاء په زده کوونکو باندې وليکئ!

د زده کوونکو فعاليتونه :

۱. متن د يوبل په مرسته په چوپتيا ولولئ!

۲. لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په جملو کې وکاروئ!

((مور ، کلی ، بڼ ، کار ! پلار))

۳. لاندې شعر ولولئ ، بيايې په خپلو کتابچو کې وليکئ اوتر ساده نومونو لاندې يې کرښه وکاږئ

دغريب کاله ماشوم دی هر هلک يو ځل وهلی نازيې هيڅ نه دی ليدلی په ژړاکورته راغلی

چا اخيستی غټرکی نه دی له سپيروخاورونه کله کور او کلي کې بې قدره خوار اوزار دی اوسېدلی

ګل پاچا الفت

۴. دلوستل شوي شعر مطلب په خپلو کتابچو کې په نثر وليکئ!

ارزونه:

- ايا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- دساده نوم په معنا او مفهوم پوه شول؟
- ايا زده کوونکي کولی شي چې له ياده نور ساده نومونه ووايي؟

کورنۍ دنده :

زده کوونکي دې په خپلوکتابچوکې څوساده نومونه وليکي، بيادې يې په جملوکې وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

اتلسم لوست

ګيدړه

موخه: ددې کيسې لوستل او ليکل، اودکيسې په مفهوم پوهېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- تاسې د ګيدړو په هکله کيسې اوريدلي دي؟
- د هر کار د پيل لپاره تاسې د هغه پايله په پام کې نيسئ؟

يوه ګيدړه په يوه غره کې اوسېده، دې هيله درلوده چې يوه ورځ باغ ته د انګورو د خوړلو لپاره لاړه شي. ددې هيلې د پوره کولو لپاره له غره څخه د باغ په لور را روانه شوه . سهار مهال په تياره کې باغ ته راورسېده . باغوان له باغ څخه ډبرجګ ديوال ددې لپاره را تاوکړی و چې باغ يې له خلکو او څارويو څخه خوندي پاتې وي.

ګيدړه تر باغ چاپېره وګرځېده. غو ښتل يې چې له ديوال څخه باغ ته واوړي . خو په دې کار بريالۍ نه شوه. په پای کې يې ددیوال په ښخ کې يو سوری وليد چې له دې سوري څخه باغوان خپل باغ او به کاوه.

ګيدړه له دې سوري څخه په ډېر زحمت باغ ته ننوته. کله چې يې په باغ کې دانګورو څوړند وړې په تاک کې وليدل. له خوښۍ نه يې تو پونه ورته ووهل او په خوړلو يې پيل وکړ.دو مره انګور يې وخوړل چې له خپلې خيټې څخه يې د اوبو مشک جوړ کړ.

د سهار رڼا خپره شوه .ګيدړې وغو ښتل چې له راغلي سوري څخه ببرته ووځي خو دومره انګور يې خوړلي وو چې له سوري څخه وتل ورته ناممکن شوی وو. له ځان سره يې وويل چې بله چاره نشته، بې له دې چې ببرته وړې شي او ووځي.

دسهار لمر خپلې وړانګې په ټولو ځايونو خپرې کړې ، باغوان له خپل سپي سره باغ ته را روان شو. کله چې باغ ته را ورسېد د باغ دروازه يې خلاصه کړه. ګوري چې ګيدړه باغ ته راغلې ، سپي چې ګيدړه وليده نو ورمنډې يې کړې او په ګيدړې يې حملې پيل کړې او له پښويې وغورځوله . ګيدړې دژوند په وروستيو شيبو کې

ketabton.com - The Digital Library

داسې وویل :کاشکې مې لومړی د وتلو لار سنجولې وای او بیا باغ ته ننوتې وای . که مې لومړی دا فکر کړی وای اوس به دا کار نه را باندې کیده.

ښوونکي ته لارښوونې:

- دمتن د مطلب په هکله معلومات ورکړه!
- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړې چې دکیسې په مطلب دې خبرې وکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې د یو بل په مرسته کیسه په چو پیتا سره ولولي.

۲. دلاندې مترادفو کلمو هم معنا له چوکاټ څخه پیدا او په خپلوکتابچو کې یې د کلمو تر څنګه ولیکئ.

محفوظ- امید- لاره سنجول- بد- د اوبو راوړلو ظرف چې ژی هم ورته وایي.

الف : هیله _____

ب: مشک _____

ج: خوندي _____

۳. دمتن اصلی مطلب په لاندې جملو کې وښیئ.

الف: په ډېر تکلیف سره د ګیدړې ننوتل سوري ته.

ب: له سوري څخه بیرته وتل د ګیدړې لپاره ناشونی کار و.

ج: لومړی باید سړی د کار انجام ښه وسنجوي بیا هغه کار وکړي.

۴. لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ، بیایې د چوکاټ په مناسبو کلموسره بشپړې کړئ.

ورته- یې- چې- روانه- مې

الف: غوښتل _____ چې له دې وال څخه باغ ته واوړي.

ب: له دې سوري څخه وتل _____ نا ممکن شوي وو.

ج: له غره څخه د باغ په لور را _____ شوه.

د: که _____ لومړی مې دا فکر کړی وای، اوس به په دې سرنوشت نه وم اخته شوې .

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آیا دوی د کیسې په اصلي مطلب پوه شول؟
- آیادمترادفو کلمو هم معنا یې له چوکاټ څخه پیدا کړه؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې د لوستل شوې کیسې مطلب په څو کرښو کې ولیکئ!

ketabton.com - The Digital Library

نولسم لوست
مرکب نوم

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د مرکب نوم پېژندل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- د مرکب نوم په هکله معلومات لرئ؟
- له تاسو څخه په دې هکله څوک مثال ويلی شي؟

مرکب نوم: هغه دی چې له دوو خپلواکو کلمو څخه جوړ شوی وي لکه: کتابتون، پرهارپانه، سپين بولدک، جلال آباد ، نوی ښار، ګلخانه، پکتيا کوټ، ميدان ښار.

په لاندې جملو کې هغو کلمو ته ځير شئ چې کرښه تر يې لاندې ايستل شوې ده.

۱- د پلخ پوهنتون يو ښکلی کتابتون لري.

۲- سپين بولدک د کندهار په ولايت کې دی.

۳- په جلال آباد کې د نارنجو ونې ډېرې دي.

۴- زما ورور په نوی ښار کې اوسيږي.

۵- د حبيب کور په ګلخانه کې دی.

۶- پرهار پانه د يو بوټي نوم دی.

په پورتنيو جملو کې (مزار شريف، سپين بولدک، جلال آباد ، نوی ښار) ګلخانه او پرهار پانه مرکب نومونه دي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولوله او د مرکب نوم په هکله معلومات ورکړه!
- د هر ګروپ زده کوونکي وهڅوئ چې په خپلو ګروپونو کې نور مرکب نومونه پیدا کړي او بیا دې هر ګروپ خپل مرکب نومونه په تخته ولیکي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. جملې دې ولولي او مرکب نومونه دې په کې په ګوته کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

- زرغانګه زما د ماما لور ده.
- بادام ګل د ماین لټوونکو په دفتر کې دنده لري.
- سره مخه یو ډول ناروغي ده.

په لاندې ورځو چوکاټونو کې کلمې در کړل شوي دي، تاسو داړوندو کلمو په یو ځای کولو سره مرکب نومونه جوړکړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

سپین	پښتون	زر	کوټ	بولدک	درمل
ګل	غوټۍ	جمال	ښار	نوی	ځانګه

۳. لاندې مرکب نومونه په جملو کې وکاروئ.

- میرویس میدان
- بریکوټ
- زرغون ښار
- سپین غر

ارزونه:

- آیا زده کوونکو مرکب نوم وپیژانده؟
- د مرکب نوم نورې بېلګې له یاده ویلی شي؟
- په جملو کې یې مرکب نومونه وپېژندل؟
- د چوکاټونو له ورکړل شوو کلمو څخه یې مرکب نومونه جوړکړای شول؟

کورنۍ دنده:

لاندې مرکب نومونه په جملو کې وکاروئ!

(سپین ګل، ګل غوټۍ، وزیر اکبر خان، میوند وات)

ketabton.com - The Digital Library

شلم لوست

اشر (ګډ کار)

موخه: د متن سم لوستل، لیکل اود ګډ کار دګټې په ارزښت پوهېدل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- آیا کله مو په ګډو کارونو کې برخه اخیستې ده؟
- ویلی شئ چې ګډ کار څه ګټې لري؟

سباوون د خپلې درې جریبه ځمکې د کرلو لپاره ډېر پرېشان و، ځکه د کروندې مهال په تېرېدو و، ځمکه یې په خپله نه شوه کرلی نو د خپلې ماندینې (تورپیکۍ) سره یې مشوره وکړه. هغې ورته وویل چې د کلي ځوانان ورته په اشر وغواړه. سباوون هم دخپلې ماندینې خبره ومنله او دکلي زلمیان یې د جمعې په ورځ د اشر لپاره را وغوښتل. سباوون نورو ځلمیانو سره سهار وختي د ځمکې په اړولو پیل وکړ. ترغرمې پورې یې ځمکه واړوله، پټې او پولې یې جوړې کړې. تورپیکۍ د غرمې لپاره ښه خوندوره ښوروا پخه کړې وه. د کلي ځلمیانو په ګډه سره ډوډۍ وخوړه او د مازیګر تر لمانځه پورې یې په پټیو کې راز راز سابه وکرل.

سباوون د تورپیکۍ له مشورې څخه ډېر خوښ و. د شپې چې سباوون او ماشومان یې د سترخوان ته د ډوډۍ خوړلو لپاره کښېناستل، سباوون خپلو ماشومانو ته وویل: «ګډ کار زموږ یو ډېر ښه دود دی. زه یوازې وم، ځمکه مې نه اړولی شوه او نه کرلی» خو ګاونډیانو را سره مرسته وکړه. زه به په خپله هم د ګاونډیانو په اشرونوکې هرومرو برخه اخلم. د ده زامنو هم وویل کله چې ځوانان شوو نو موږ به هم له خپلو ګاونډیانو سره په کارونو کې برخه واخلو.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي او د درس مطلب دې له زده کوونکو څخه وپوښتي.
- ښوونکی دې د اشر د ګټو په هکله معلومات ورکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې د ګډ کار د ګټو په هکله خبرې وکړي.

۲. زده کوونکي دې نوې کلمې په جملو کې وکاروي.

مهال - وخت زلمی - ځوان خوندوره - مزه دار اشر- ګډ کار

۳. لاندې نیمګړې جملې په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

سباوون د خپلې درې جریبه ځمکی د کرلو له پاره ډېر _____ و.

سباوون د کلي ځلمیان د جمعی په ورځ _____ ته را وغوښتل.

۴. لاندې کلمې په کتابچو کې ولیکئ او بیا د ساده نومونو لاندې کرښه وکاږئ.

سباوون- ځمکې- کلي- خوښ- ځوانانو- کار- مرسته- اشر.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شی؟
- زده کوونکو د ګډ کار د ارزښت او ګټې په هکله پوهه ترلاسه کړه؟
- آیا زده کوونکي کولی شي چې د ګډکار په ارزښت خبرې وکړي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د خپل ګډ کار چې په کور، ښوونځي او یا په کوم بل ځای کې یې تر سره کړې وي، څوکرښې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

يوويشتم لوست
د کونړ سيند

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د کونړ د سيند په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- آيا د کونړسيند مولیدلی دی؟
- ويلی شئ چې له دې سيند څخه خلک کومې ګټې ترلاسه کوي؟

د کونړ سيند د هندوکش له غرونو څخه سر چينه اخلي. د چترال له خوا د بريکوټ په سيمه کې کونړ ته داخليږي او له دې ځايه د شيګل او اسمار پر لاره د دنګو دنګو غرونو په منځ کې له دم کلي يا اسعد آباد څخه تېر او مخ پرجلال آباد بهيږي. له دغه سيند سره د کامديش او پېچ دري سيندونه هم يوځای شوي دي. د کونړ د زراعتي ځمکو پر خړوبولو سر ببره کونړ ته يې ځانګړې ښکلا وربخښلې ده.

په دې سيند کې ډول ډول کبان او په شګو کې يې د سرو او سپينو زرو ذرې شته، چې ډلې ډلې ښکاريان د کبانو نيولو او زرلټوونکي د زرو په راغونډولو پسې ورځي. دا سيند د بربښنا د توليد او دځمکو د خړوبولو لپاره ډېرې اوبه او دبندونو جوړولو لپاره مناسب ځايونه لري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- د کونړ سيند په هکله دې معلومات ورکړي.
- نوې کلمې دې د تختې پرمخ وليکي او معنا دې يې کړي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن په چوپتيا سره ولولئ!

۲. نوې کلمې په جملو کې وکاروئ.

پيل شروع کيان ماهيان ښکلا ښايست

۳. دلاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

د کونړ سيند هندوکش له غرونو څخه _____ کېږي.

د کونړ سيند ډېر _____لري.

د کونړ سيند ډېره زراعتي ځمکه _____ .

د کونړ سيند د کونړ ولايت ته زياته _____ ورکړي.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آيا د متن د مطلب په هکله خبرې کولی شي؟
- د نويو کلمو په معنا پوه شوي دي. او نوې کلمې په جملو کې کارولی شي؟

کورنۍ دنده:

د کونړ سيند په هکله هغه څه چې مو زده کړل، په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکئ!

ketabton.com - The Digital Library

دوه ويشتم لوست

مشتق نوم

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د مشتق نوم پېژندل او په جملو کې يې کارول دي.

.

هڅوونکې پوښتنې:

- آيا تاسو د مشتق نوم اوريدلی دی؟
- مشتق نوم څه ډول نوم ته وايي؟
- کومی شئ چې د مشتق نوم ښيلګې ووايئ؟

مشتق نوم: هغه دی چې له يوې ريښې سره مختاړی يا وروستاړی ونښلي او نوې کلمې ترې جوړې شي يا مشتق يا جوړ شوی نوم، د يوې خپلواکې (مستقلې) ريښې سره د لاحقې او سابقې په نښلولو جوړېږي. لکه: د (روغتيا) مشتق نوم د يوې مستقلې ريښې (روغ) او د (تيا) وروستاړی څخه جوړ شوي دی.
د (راتګ) مشتق نوم د (را) سابقی او د (تک) ريښې څخه جوړ شوی دی.
لاندې جملې ولولئ او هغو کلمو ته پام وکړئ ترکومو کلمو لاندې چې کرښه کښل شوې ده.

- زما خورځه ناروغه ده.
- ښوونکی د ښوونځي په ميدان کې زده کوونکو ته وينا کوي.
- د تورګل پلار د نساجۍ په فابريکه کې کارګر دی.

په پورتنيو کلمو کې (خورځه، زرګر، کارګر، مشتق نومونه دي چې د يوې ريښې څخه د مختاړو اووروستاړو په نښلولو سره جوړ شوي دي. په لاندې توګه:

۱. د (خورځه) مشتق نوم چې د (خور) دريښې او د (ځه) د لاحقې په يو ځای کيدو سره جوړ شوی دی.
۲. د (زرګر) مشتق نوم د (ښوونې) د ريښې او د (ګر) د لاحقې په نښلولو سره جوړ شوی دی.
۳. د (کارګر) مشتق نوم د (کار) دريښې او د (ګر) د لاحقې يا وروستاړي څخه جوړ شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې د مشتق نوم اود هغه د بېلګو په اړه لنډ معلومات و ړاندې کړي.
- ښوونکی دې د مشتق نوم بېلګې له زده کوونکو څخه وپوښتي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. دلاندې جملو تش ځایونو لپاره په قوسونو کې ساده نومونه او مشتق نومونه د رکړل شوي دي. تاسې له دې کلمو څخه یوه مناسبه کلمه پیدا او جملې ورباندې بشپړې کړئ.

(کتاب ، کتابدار باغ، باغوان ګل، ګلدانۍ)

د کتابتون _____ باید په خپل وخت ورورل شي.

_____ باید کتابونه په ټاکلي ځای کې کیږدي.

_____ د ونو په ساتلو او ډګلانو په کرلو ښه پوهیږي.

په _____ کې رنګا رنګ ګلان او ونې وي.

د _____ ساتنه ډېر مهارت غواړي.

د ژمي په موسم کې ګلان په _____ کې کښنول او ساتل کېږي.

۳. لاندې متن ولولئ او په دې کې مشتق نومونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

افغانستان یو غرنی هېواد دی. دا ښکلی هېواد د ونو او غرونو د لرلو له کبله ښه هوا لري.
د دې وطن له هرې سیمې څخه راز راز غلې او مېوې لاس ته راځي.
په افغانستان کې ډول ډول طبی بوټي شنه کېږي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکو د مشتق نوم وپېژانده؟
- د مشتق نوم په اړه نورې کلمې له یاده ویلی شي؟
- دوی وکولی شول چې نیمګړې جملې په مناسبو مشتقو نومونو او ساده نومونو سره بشپړې کړي؟

کورنۍ دنده:

دا لاندې د مشتق دنومونو ریښې او لاحقې سره ښلی کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ او بیا یې په جملو کې وکاروئ.

(ښکاري، سیلانیان، لوګری)

ketabton.com - The Digital Library

درويشتم لوست

موزيم

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د موزيم په معنا او مفهوم پوهيدل او د موزيم د لرغونو آثارو د ارزښت په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- موزيم کوم ځای ته وايي؟
- تاسې کله موزيم ليدلی دی؟
- هلته مو څه شی ليدلي دي؟

موزيم هغه ځای ته وايي چې د يوه هېواد ارزښتناک او د ډېرو زمانو لرغرني آثار په کې ساتل کېږي چې له يوه ځايه بل ځای ته د لېږدولو وړ وي. د تېرو زمانو د خلکو له خوا هغه جوړ شوي شيان چې د اغوستلو ، کارولو، خوړلو، او سېدلو او لمانځلو لپاره يې جوړ کړي وي د تاريخي يا لرغونو آثارو په نامه يادېږي.

زمونږ ګران هېواد افغانستان د نړۍ يو خورا لرغونی هېواد دی او ډېر لرغونی او زوړ تاريخ لري. تر اسلام د مخه په دې خاوره کې نور مذهبونه او اديان لکه: زردشتي او بودايي رواج وو. ددې مذهبونو زيات آثارتر اوسه پورې زمونږ په هېواد کې موندل کېږي. لرغوني آثار ديو هېواد د تاريخ د يوه سند حيثيت او ارزښت لري. د نړۍ خلک د خپلو تاريخي آثارو قدر کوي.

موزيم د تاريخي پېښو او واقعاتو د معلومولو او اټکل لپاره يوه غوره وسيله ده. او دتېر وخت د ژوند بڼه، دود او د ستور په ډاګه کوي.

په افغانستان کې د هېواد د لرغونو آثارو د ساتلو په خاطر يو موزيم د کابل ښار په دارالامان کې موقيعت لري.دا موزيم په آسيا کې له مشهورو موزيمونو څخه ګڼل کېږي. لازمه ده چې مونږ دموزيم په ارزښت وپوهېږو او په هغه کې د موجودو لرغونو آثارو ساتنه وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن دې ولولي.
- د موزیم د ارزښت په هکله دې معلومات ورکړي.
- له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د موزیم د ارزښت په هکله خبرې وکړي.
- د متن څو جملې دې په زده کوونکو باندې وليکي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن دې ولولي.

۲. لاندې کلمې په کتابچو کې وليکئ! بیا د صفت تر کلمو لاندې کرښه وکاږئ.

(ګران، ډیر، هېواد، ارزښت، قدر، غوره، آثارو، مشهورو).

۳. دلاندې کلمو، ضد پیدا او په خپلو کتابچو کې یې وليکئ!

الف: زوړ

ب: اسلام

ج: زیات

د: قدر

۴. پوښتنې:

- موزیم کوم ځای ته وایي؟ ځواب یې په کتابچو کې وليکئ.

۵. لاندې جملې په کتابچو کې وليکئ! بیا یې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره بشپړ کړئ!

الف: د کابل موزیم ډېر _____ آثار درلودل.

ب: زموږ _____ هېواد افغانستان د _____ یو خورا لرغونی هېواد دی.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د موزیم په هکله یې پوهه ترلاسه کړه؟
- آیا زده کوونکي د موزیم او دهغه د ارزښت په هکله خبرې کولی شي؟
- په ورکړل شوو کلمو کې یې د صفت کلمې پیدا کړي؟
- د متضادو کلمو ضد یې پیدا کړی؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د موزیم د ارزښت په اړه په خپلو کتابچو کې څو کرښې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

څلرويشتم لوست
د بُست کلا

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د بُست د کلا په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- څوک ويلی شي چې د بُست کلا په کوم ځای کې ده؟
- ستاسو په فکر د بُست کلا به کومو بادشاهانو جوړه کړې وي؟

وايي چې غزنوي پاد شاهان به په ژمي کې د هلمند بُست ته تلل. په بُست کې يوه غونډۍ وه. د دې غونډۍ پر سر غزنوي پادشاهانو يوه لويه او ښکلې کلا جوړه کړې وه چې څلورو خواوو ته يې لوی لوی برجونه درلودل. د دې غونډۍ په لمن کې بازار، کاروان سرايونه، حمامونه او لوی جوماتونه جوړ شوي وو. خواوس هغه ښکلی ښار وران دی ځکه دا ښار چنګېز او تېمور وسوځاوه. چې اوس د بُست د ښار يواځې يوه دروازه آباده پاتې ده چې پنځه ويشت متره اوږدوالی لري. دا دروازه په يوولسمه ميلادي پېړۍ کې په خورامهارت او ښکلې بڼې جوړه شوې ده. چې شته والی يې زمونږ په تاريخي آثارو کې شمېرل کېږي.

نو لازمه ده چې مونږ دخپل ګران هېواد افغانستان په زړه پورې تاريخي آثار د زړه له کومې خوندي وساتو او هېڅا ته دا اجازه ور نکړو چې دا ملي شتمني له منځه يوسي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- د بُست کلا په هکله دې خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د متن څو جملې پر زده کوونکو باندې املاء کار وکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. زده کوونکي دې دبُست کلا په هکله د ټولګي په مخکې خبرې وکړي او داسې نور تاریخی ځایونه دې په تخته ولیکي.

۳. د لاندې کلمو، ضد د چوکاټ څخه پیدا او د کلمو ترڅنګ یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

لویه	_____
وران	_____
ښکلا	_____
ژمی	_____

اوړی ـ وړه ـ آباد
بدرنګ ـ

۴. لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ!

- غزنوي پادشاهانو په بُست کې څه شی جوړ کړې و؟
- د بُست کلا چا وسوزوله؟
- د بُست کلا دروازه څومتره اوږدوالی لري؟
- د بُست دروازه په څویمه میلادی پیړۍ کې په خورامهارت او ښکلې بڼه جوړه شوې وه؟

۵. لاندې نیمګړې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په مناسبو کلمو سره یې بشپړې کړئ.

بُست په _____ کې یو ځای دی.

بُست کې _____ یوه لویه کلا جوړې کړې ده.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آیا زده کوونکي په دې پوه شول چې د بُست کلا په کوم وخت کې او دکومو پادشاهانو له خوا جوړه شوې ده؟

کورنۍ دنده:

لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې په جملو کې وکاروئ!

(بُست، غزنوي، غونډۍ، کلا، ښار)

ketabton.com - The Digital Library

پنځه ويشتم لوست

د پښتو ژبې توري

موخه: د پښتو ژبې د تورو سم لوستل، ليکل او دتورو په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې د پښتو ژبې ټول الفبا (توري) څو دي؟
- پوهېږئ چې کوم توري د پښتو اصلي توري دي؟

د پښتو ژبې الفبا څلور څلوېښت توري لري لکه:

آ ـ ا ـ ب ـ پ ـ ت ـ ټ ـ ث ـ ج ـ ح ـ خ ـ څ ـ

ځ ـ د ـ ډ ـ ذ ـ ر ـ ړ ـ ز ـ ژ ـ ږ ـ س ـ ش ـ

ښ ـ ص ـ ض ـ ط ـ ظ ـ ع ـ غ ـ ف ـ ق ـ ک ـ ګ ـ

ل ـ م ـ ن ـ ڼ ـ و ـ ه ـ ی ـ ې ـ ی ـ ئ ـ ي ـ

په دغو تورو کې (۲۲) توري د پښتو او فارسي تر منځ ګډ دي او نور اته توري يوازې په پښتو کې راځي چې هغه دادي:

ټ ـ ډ ـ ړ ـ څ ـ ځ ـ ږ ـ ښ ـ ڼ

په دغو څلورڅلويښت تورو کې (۲۲) توري چې او څلور نور کومکي توري دي.

په پښتو کې د عربي ژبې دغه لس توري هم په مستعار ډول کارول کېږي.

ث ـ ح ـ ذ ـ ص ـ ض ـ ط ـ ظ ـ ع ـ ف ـ ق

خو د پښتو په کلمو کې راځي او که په کومه کلمه کې راشي نو هغه به اصلاً پښتو نه وي.

د پښتو د الفبا بېلګې په کلمو کې:

آسمان، اس، باغ، پلار، توت، ټولګی، جامې، څوک،څراغ، خټکی،ځمکه، دېوال، ډوډۍ، ړوند ، زنه، زلمی، سترګه، شپه، ښځه، کور، او داسی نور.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

➢ ښوونکی دې د پښتو ژبې اصلي توري پر تخته وليکي او له زده کوونکو څخه دې داسې کلمې وغواړي چې د پښتو توري پکې راشي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. د لاندې لغتونو هم معنا کلمې په تشو ځايونو کې وليکئ.

خاص، ګډ، کانسونينټ، واول.

شريک: ۲۱ توري د پښتو اوفارسي ترمنځ _____ دي.

خپل: د پښتو _____ توري اته دي.

چپ: د پښتو الفبا ۲۲ توري د _____ دي.

کومکي: په پښتو ژبه کې څلور توري _____ بلل کېږي.

۲. دهرې پوښتنې له پاره درې ځوابونه درکړل شوي دي. تاسو يې سم ځواب په ننبه کړئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

په پښتو کې ټول مستعمل توري څو دي؟ (۴۴) (۱۰) (۳۰)

د پښتو او دري ترمنځ ګډ توري څو دي؟ (۲۰) (۲۲) (۲۸)

د پښتو په الفبا کې چپ توري څو دي؟ (۲۲) (۲۸) (۲۱)

د پښتو الفبا کومکي توري څو دي؟ (۱۳) (۴) (۲)

د الفباهر توري ته يوه کلمه په خپلو کتابچو کې وليکئ چې په هماغې توري پيل شوې وي.

لکه: (آ) آسمان.

۳. د پښتو اصلي توري څو دي؟ بيا د هر توري له پاره درې درې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۴. لاندې پښتو تورو ته داسې کلمې جوړې کړئ چې توري د کلمې په سر، منځ او پای کې راشي.

(ټ – ډ – ړ – څ – ځ – ږ – ښ – ڼ).

لکه: (ټال) په سر کې (غټان) په منځ کې (مټ) په پای کې.

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو د پښتو الفبا توري وپېژندل؟
- زده کوونکي کولی شي چې هر توري ته کلمې ووايي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د پښتو اصلي توروته کلمې جوړې او بيا دې په جملو کې وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

الوتکه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د الوتکې په اړه معلومات پیدا کول.

هڅوونکې پوښتنې:

- ویلی شئ چې الوتکه د لومړي ځل له پاره چېرې او د چا له خوا جوړه شوه؟
- الوتکو د انسانانو په ژوند کې کوم بدلون راوستی دی؟

دالوتکې په وسیله انسانان له یوه ځای څخه بل ځای ته په ډېره لږه موده کې سفر کولی شي. الوتکې د انسان په ژوند کې زیات بدلون راوستی دی.

الوتکه د لومړي ځل له پاره د (۱۹۰۳) م کال د دسمبر د میاشتی په (۱۷) نېټه دوو امریکایي وروڼو چې اولیف رایټ او ویلبورایټ نومېدل په هوا کړه. دوی خپله لومړنۍ الوتنه د هغې الوتکې په وسیله چې یو ماشین یې درلود چې د لرګیو، تارونو او توکر څخه جوړه شوې وه د (۳۷) مترو په واټن سرته ورسوله. دا په نړۍ کې لومړنۍ الوتنه وه. تر دې وروسته نورو پوهانو د الوتکې جوړولو په کار کې بنه والی راوست، او س په نړۍ کې راز راز الوتکې جوړې شوې دي. ځینی الوتکی تر (۱۴۰۰۰) مترو لوړوالي پورې الوتنه کولی شي، لویې الوتکې زیات شمېر کسانو له پاره ځای لري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي.
- د هوايي ترانسپورټ د ارزښت او ګټو په هکله د زده کوونکو د سويې په پام کې نيولو سره سم معلومات ورکړي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن د يو ښل په مرسته ولولئ!

۲. د لاندې کلمو مترادف له چوکاټ څخه پيدا او د کلمو تر څنګ يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

تغير - فاصله – دنيا – چټک - طياره

الف: الوتکه _____. د: نړۍ _____.

ب: بدلون _____. هـ: تېز _____.

ج: واټن _____.

۳. د لاندې پاراګراف تش ځايونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

الوتکه د لومړي ځل له پاره په ۱۹۰۳ _____ کال کې دوو _____ ورونو چې _____ نومېدل جوړه کړه.

دوی خپله _____ الوتنه د هغې الوتکې په وسيله چې يو _____ يې درلود، چې د _____، تارونو او _____ څخه جوړه شوې وه د ۳۷ مترو په _____ سرته ورسوله. د ا په نړۍ کې لومړنۍ _____ وه.

۴. لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په جملو کې وکاروئ.

(الوتکه ـ نړۍ ـ چټک ـ سفر ـ بدلون).

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکي د متن په مفهوم پوه شوي دي او خپل معلومات نوروته ويلی شي؟
- آيا زده کوونکو و کولی شول چې ورکړل شوی پاراګراف په مناسبو کلمو بشپړ کړي؟
- آيا زده کوونکو د کلمو ضد پيدا کړی دي؟

کورنۍ دنده:

د الوتکې د ارزښت او ګټې په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

اوه ويشتم لوست
د کلام اجزاوې
نوم

موخه: د نوم په معنا او مفهوم باندې پوهېدل، په جملو کې د نوم سم کارول، اود دې متن لوستل او ليکل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- تاسې د څو شيانو نومونه واخلئ؟
- ستاسو په فکر نوم څه ته وايي؟

نوم:

نوم د وينا هغې برخې ته وايي چې د هغه په واسطه يو شخص، حيوان يا شی نومول کېږي نوم د څوک، چا، څه شي او څه شيانو پوښتنو ته ځواب ورکوي.

لاندې جملې ولولئ! ترکومو کلمو لاندې چې کرښه ايستل شوې ده د انسان، حيوان يا د يو شي نوم را ښيي.

۱. زرغونه نن بازار ته ځي.
۲. اڅک خپل ملګري ته ليک ليکي.
۳. ګل غوتې لمر ته ناسته ده.
۴. هغه آس زيړ رنګ لري.

زرغونه، اڅک، ګل غوتې، آس

کلمې ټول نومونه دي زموږ په ژبه کې د (څوک او چا) پوښتنې د ا شخاصو او د څه شي پوښتنې د شيانو له پاره راځي.

مثلاً چا ـ څوک؟ ـ غوتې ـ ايمل ـ او زمری.

يادونه: په پښتو کې چا اوڅوک د مفرد اوجمع د پاره يو ډول راځي او توپير يې د جملې په خبر کې څرګندېږي.

څه شی؟ ونه، موټر، اوبه، ځمکه. څه شيان؟

غرونه، وڼې، ګلان، ميږی.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ آواز ولوله!
- د نوم او دهغه د مثالونو په وړاندې کولو سره معلومات ورکړه!
- پر زده کوونکو باندې د نوم ښېلګې د تختې پرمخ مشق او تمرین تر سره کړه!

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په لوړ آواز ولولي.
۲. لاندې نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ بیا د انسان نومونه پکې په نښه کړئ.
(زرغونه، روښان،ونه، څوکۍ، آس، پسه).
۳. په لاندې نومونو کې د شیانو نومونه په نښه کړئ!
(مېز، ګېلاس، ساعت، وتې، ګلان، لاسونه).
۴. لاندې متلونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا تر نومونو لاندې یې کرښه وکاږئ!
۱. لمر په دوو ګوتو نه پټیږي.
۲. له بېکاره هر څوک بې زاره دی.
۳. ستا څه کمی دی، چې په لاس دې سورغمی دی.
۴. شرمښ هغه مېړه وړي، چې له رمې څخه جلا وي.
۵. خپله خوله هم کلا ده هم بلا ده.
۵. زده کوونکي دې په دوه کسیزه توګه یو بل ته املا ووایي او خپلې غلطۍ دې د ښوونکي په مرسته اصلاح کړي.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د نوم او دهغو مثالونو په وړاندې کولو سره کولی شي معلومات ورکړي؟
- آیا زده کوونکي وکولی شول چې د انسان، حیوان او شیانو نومونه په ورکړل شوو نومونو کې په نښه کړي؟
- په ورکړل شوو متلونو کې یې نومونه پیدا کړی شول؟

کورنۍ دنده:

په خپله خوښه د انسان، څارویو، او شیانو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ بیا یې په جملو کې وکاروئ.

ketabton.com - The Digital Library

اته ویشتم لوست

تلویزیون



موخه: د متن سم لوستل، لیکل د تلویزیون پېژندل او د تلویزیون په اړه معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- په انځور کې څه وینئ؟
- تاسې د تلویزیون کومو خپرونو سره مینه لرئ؟

تلویزیون د خبرو رسولو هغه وسیله ده چې د آواز سربېره تصویر هم ښیي. تلویزیون یو داسې بکس دی چې مخې ته یې ښیښه لګېدلې ده. په دې ښیښه باندې د ویونکو او نورو شیانو تصویرونه څرګندوي. د دې شاته د وړو وړوپرزو یو جال دی. تلویزیون د راډیو یو پر مخ تللی شکل دی. توپیر یې دادی چې موږ له راډیو څخه یوازې غږونه اورو او په تلویزیون باندې له آواز سربېره تصویرونه هم راځي.

بل توپیر یې دادی چې راډیو تر لیرې ځایونو پورې اوربدل کېږي. خو تلویزیون له خپل مرکز څخه تر (۷۰) کیلو مترہ لیرې اوربدل او لیدل کیدای شي. خو اوس د دېش انتنونو په جوړولو سره دا کار اسانه شوی دی. دهر ځای او دهر هېواد په تلویزیون کې ډول ډول پروګرامونه خپرېږي.

په تلویزیون کې د قرآن کریم ښوونه، تلاوت، روغتیایي پروګرامونه، خبرونه، تفریحي پروګرامونه، سپورتي لوبې، ترانې، سندرې، مرکې اوښوونیز فلمونه او داسې نور خپرېږي.

هر څوک د خپلې خوښې پروګرامونه په خپل وزګار وخت کې ګوري.

تلویزیون د ډېلا ډېلو ښارونو، هېوادونو او کلیو عکسونه ښیي د ټولې نړۍ له حالاتو څخه موږ خبروي. د ساینس او د نورو علومو سبقونه را ته ښیي. تلویزیون له سهار څخه تر مانښامه پورې د ماشومانو او ځوانانو د ښې روزنې له پاره هم ښوونیزې او روزنیزې خپرونې لري او تر ګټه اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

زمونږ د هېواد ماشومانو او ځوانانو ته په کار ده چې دوی د ټلویزیون تعلیمي او تربیوي خپرونې وګوري او ګټه تري واخلي. د ټلویزیون د کتلو په وخت کې باید تاسې لیرې کښینئ. ځکه چې نژدې کېناستل سترګو ته زیان رسوي.

د انګلیسی (برد) او امریکایي (جنکتر) په هڅو پر (۱۹۲۵) م کال کې د بربښنا په څپو کې ټلویزیون د عکس لېږدولو تجربه بریالۍ شوه او بیا یو شمېر نورو پوهانو ددې کار په بشپړتیا کې هڅې وکړې او د ټلویزیون نندارې یې په نړۍ کې وروښودله.

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولولئ!
- د ټلویزیون د ارزښت او ګټو په هکله معلومات ورکړئ!
- له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړئ چې کوم پروګرامونه د دوی له پاره په زړه پورې دي په دې هکله دې خبرې اترې وکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. لغتونه او معناګاني:

لغتونه	او معناګاني:	لغتونه	او معناګاني:
شکل	بڼه	توپیر	فرق
تصویر	عکس	مرکو	خبرو
تلاوت	سم لوستل او قرائت	زیان	ضرر
هڅې	کوښښونه		

۲. په خپلو کتابچو کې له پورتنیو لغتونو څخه مناسبې جملې جوړې کړئ!

۳. په لاندې کلمو کې د ضمیر کلمې په نښه او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

(ټلویزیون، وسیله، هغه، دوی، څوک، موږ، ملت، ټول، زمونږ، تاسې)

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د ټلویزیون په اړه یې پوهه ترلاسه کړه؟
- زده کوونکي کولی شي چې د ټلویزیون د ارزښت او ګټو په هکله خبرې وکړي؟
- په ورکړل شویو کلمو کې یې ضمیرونه وپېژندل؟

کورنۍ دنده:

د ټلویزیون کومه خپرونه مو خوښېږي دهغې په باره کې په خپلو کتابچو کې څو کرښې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

نهه ویشتم لوست
د ماین خطرونه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ماین له خطرونو څخه د ځان ژغورل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- که چېرې داسې ډبرې په یوځای کې ووینو چې په سره رنګ په نښه شوي وي باید څه وکړو؟
- د ناڅاودلو مرمیو او ماینونو په لیدو سره باید مور چاته خبر ورکړو؟

زرمینه د خپلې ترور کره تلله. کومه لاره چې د هغې د ترور کورته تللې وه، له یوې د ښتې څخه تېرېده چې ځینې ناپېژندل شوي شیان موجود وو.

یوه ورځ د مخه زرمینې ته د ماینونو د خطر پېژندنې او ناڅاودلو شیانو د کورس ښوونکي د ماینونو له خطرڅخه د مخنیوي په اړه معلومات ورکړي و، د لارې په اوږدوکې زرمینې ته د خپل استاذ خبرې په یاد وې او په فکر کې یې راګرځېدلې، هسې نه چې په کوم ماین وربرابره شي. په همدې فکر کې وه چې نابېره یې سترګې په ماین ولګېدې. زرمینه بې له دې چې وارخطا شي ودرېده او د خپل استاذ ټولې خبرې یې را په یاد شوې. لومړی یې هغه د ډبرې په وسیله په نښه کړ. خو په دې یې هم تسلي ونه شوه بیا یې یوه ټوټه را واخیسته او په هغه ځای کې یې د یوې نښې نښانې په شکل کښښوده. په خپله په هماغه لاره چې راغلې وه ستنه شوه او د ماین پاکۍ دفتر ته یې خبر ورکړ، د ماین پاکولو یوه ډله له زرمینې سره روانه شوه او هغه سیمه یې له ماینونو څخه پاکه کړه. د ماین پاکۍ دفتر د زرمینې ښوونځي ته د هغې د ښه کار په خاطر یو ستاینلیک واستوو. بله ورځ سرښوونکي د ښوونځي ټول زده کوونکي راوبلل او د زرمینې د هوښیارۍ کیسه یې ټولو ته بیان کړه. بیا یې له زرمینې څخه مننه وکړه او ستاینلیک یې ورکړ. سر ښوونکي له ټولو

ketabton.com - The Digital Library

زده کوونکو څخه وغوښتل چې باید د زرمینې په شان له هوښیارۍ او زیرکۍ څخه کار واخلي. د ماین د لیدلو په صورت کې باید د ماین پاکۍ دفتر ته خبر ورکړو که موسسه لیرې وي نو ښایي چې د کلي مشران او سپین ږیري خبر ورکړي.

ښوونکي ته لارښوونې:

- د ماین د خطرونو په هکله معلومات ورکړه!
- زده کوونکي وهڅوئ چې د ماینونو د خطرونو په هکله چې څه معلومات لري خبرې پرې وکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. د لاندې کلمو مترادف له در کړل شویو کلمو څخه پیدا او د کلمو ترڅنګه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

نابیره _	ناڅاپه _	سمدوار
ډبرې _	لوتې _	تیږې
تسلي _	اطمینان _	باور
شکل _	بڼه _	څېره
سیمه _	منطقه _	کلی

۲. لاندې پوښتنو ته ځوابونه ووایاست او خپل ځوابونه د پارګراف په بڼه پر خپلو کتابچو کې ولیکئ.

الف: زرمینه چېرته تللې؟ ب: په لاره کې یې څه ولیدل؟ ج: زرمینې څه وکړل؟

د: بیا یې چا ته خبر ورکړ؟ هـ: په پای کې څه وشول؟

و: که تاسې هم په کومه سیمه کې له ماین سره مخامخ شئ څه کولی شئ؟

۳. لاندې کلمې په خپلوکتابچو کې ولیکئ او د ضمیر له کلمو څخه کرښه وکاږئ.

ورځ _ هغه _ ماین _ سیمه _ چا _ څوک

الف: زرمینه بې له دې چې _____ شي، ودرېده.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو د ماین د نښو په اړه معلومات پیدا کړ؟
- آیا زده کوونکي د متن په مطلب خبرې کولی شي؟
- په ورکړل شویو کلمو کې د ضمیر کلمې پیدا کړئ؟

کورنۍ دنده:

د لوستل شوې کیسې مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د برشم لوست
د تپ ترڼل

موخه: دمتن سم لوستل، ليکل او د تپ دترڼلو په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- آيا ستاسو کوم ځای کله ټپي شوی دی؟ بيا مو د خپل ټپي شوي ځای په اړه څه فکر کړی دی؟
- که يو ځای مو ټپي شي څه بايد وکړئ؟

رحمان او اجمل په بڼ کې لوبې کولې. د لوبو په وخت کې ناڅاپه د رحمان پښه وښوبده او په ځمکه راوغورځيده. لاس يې ټپي او ډير ژوبل شو.
اجمل نور څه پيدا نه کړل يو څه خاوره يې دهغه پر ټپي شوي ځای واچوله چې وينه يې پرې بنده شي. کله چې رحمان کورته راغی موريې شليدلي کالي او دلاس ټپ وليد. تري يې وپوښتل چيرې دې ځان ژوبل کړ؟ رحمان وويل مور جانې ما او اجمل دواړو په بڼ کې لوبې کولې چې ناڅاپه مې پښه وښوبده او پرځمکه وغورځېدم مور يې نور هېڅ ونه ويل لومړی يې په پاکو اوبو او صابون د هغه ټپ له خاورو او وينو ومينځه او په يو نرم او پاک ټوکر يې وتاړه چې وينه يې بنده شي. کله چې دهغه پلار خبر شو رحمان يې د کلي نړدې کلينيک ته ور ووست. پلار يې ډاکټر ته ټوله کيسه و کړه ډاکټر د هغه ټپ له خاورو څخه ښه پاک کړ، بيا يې د ميکروب ضد درمل پرې واچول او زخم يې وتاړه.

بيا يې ورته وويل: پر ټپ خاوره او نسوار اچول ډير زيان لري. تيتانوس او نورې خطرناکې ناروغۍ مينځ ته راوړي او کله کله د ټپي د مړينې سبب ګرځي. په خاورو کې ډول ډول ميکروبونه وي چې که پر ژوبل شوي ځای واچول شي په ډېره اسانۍ سره دغه ميکروب د انسان بدن ته ننوځي د ټپونو په جوړېدلو کې پاکوالی لومړۍ درجه ارزښت لري څوک چې ټپ تړي بايد خپل لاسونه په پاکو اوبو او صابون پرې مينځي او بيا زخم په پاکه ټوټه وتړي او تر جوړېدو پورې پاک وساتل شي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې لوست ولولي او نوې کلمې دې معنا کړي.
- د ټپ د ټړلو او دهغه د پاک ساتلو په هکله دې معلومات ورکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې د لوست متن ولولي، بیا دې دهر ګروپ یوتن د ټپ د ټړلو په هکله خبرې وکړي.

۲. لغتونه او معناګانې:

ټپ ـ زخم　　ناڅاپه - نابېره

شلیدلی ـ څیرې　　ټوکر ـ ټوټه

۳. لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ!

- رحمان او اجمل په بڼ کې څه کول؟
- ډاکټر درحمان پلار ته څه وویل؟
- کوم شی د تیتانوس د ناروغۍ سبب کېږي؟

۴. له درکړل شوو قوسونو څخه د کلمو سم شکل وټاکئ او د جملو په تشو ځایونو کې ېې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

اجمل دهغه په ټپ یو موټی _____ واچوله.　　(ښاوره، خاوره)

ډاکټر وویل: په ټپ خاوره اچول ډېر _____ لري.　　(ظرر، ذرر، ضرر)

د زخم په مینځلو کې دا ښولو اوبو او _____ څخه ګټه واخلئ.　　(صابون، ثابون)

د ټپ _____ به پاک ټوکر ښه وي. (ټړل، ټول).

ټپ باید لومړی په پاکو اوبو _____ شي.　　(ومینځل، واینځل)

۵. دلاندې مفردو کلمو د جمع شکل په خپلو کتابچو کې ولیکئ

بڼ ـ　ډاکټر ـ　ټپ ـ　لوبه ـ　لاس ـ　پلار.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن لوستلی شي؟
- آیا دوی د ټپ په هکله خبرې کولی شي؟ او د ټپ د لارو چارو په اړه یې معلومات ترلاسه کړ؟
- پوښتنو ته یې ځوابونه وویلی شول؟

کورنۍ دنده:

لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په جملو کې وکاروئ.

(ټپ، زخم، خاوره، پاکوالی، میکروب، بڼ)

ketabton.com - The Digital Library

يو دبرشم لوست
د نشه يي توکو زيانونه

موخه: د متن لوستل، ليکل، د نشه يي توکو په زيانونو پوهېدل او له هغو څخه ځان ساتل دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- آيا ويلی شئ چې نشه يي توکي په څو ډوله دي؟
- که چېرې يو څوک په نشه يي توکو روږدی وي د هغه ژوند به څه ډول وي؟

نشه هغه حالت ته وايي چې نشه کوونکی يې د عادي حالت څخه ووځي. اودښو او بدو توپير و نشي کړای. نشه يي توکي لکه چرس، بنګ، تریاک، هيروئين، شراب او داسې نور. چې په هره بڼه وکارول شي بدن ته زيان رسوي. او انسان خپل جسمي او روحي فعاليتونه په بڼه توګه سرته نشي رسولی. پورته نشه يي توکي په اقتصادي لحاظ انسان ته زيان رسوي. نشه يي انسان د نشې د ترلاسه کولو له پاره په هره بيه چې وي پيسې ورکوي. له اقتصادي زيان سربېره د انسان په وجود کې ډول ډول ناروغۍ رامنځ ته کوي. او د هرې ورځې په تېريدو سره د خپل وجود پياوړتيا له لاسه ورکوي. نشه يي کسان د وجود په کمزوري کښدو نه شي کولی چې خپل ورځينې کارونه سرته ورسوي او يا د خپلو کارونو له پاره مهال وېش په پام کې ونيسي. نشه يي کسان د خپل بيکاره او کمزوري وجود له مخې د کار کولو له ډګر څخه وځي ورو ورو له غريبۍ سره مخ کېږي د خپلې کورنۍ او ټولنې د اوږو بار ګرځي. ډېر تنکي ځوانان د نشه يي توکو د پيسو د تر لاسه کولو له پاره په غلا او نورو ډول ډول جرمونو لاس پورې کوي. د نشه يي توکو د عادت عوامل: جګړه، کډوالي، بې وسي، ناوړه او خراب ملګري او کورنۍ ستونزې او داسې نور دي، نو په کار ده هغه کسان چې په دې ناوړه عمل باندې

ketabton.com - The Digital Library

اخته دي له ځان سره پياوړي او قطعي پربکړه وکړي او دغه بد او زيان رسوونکی عمل پريږدي. او پر ځای يې خپل وجود په مبوو او دانو پياوړی کړي. تر څو په ژوند کې نېکمرغه او بريالی واوسي.

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي او بيا دې د نشه يي توکو په زيانونو لنډې خبرې وکړي.
- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه په وار وغواړي چې د نشه يي توکو نومونه واخلي او د زيانونو په اړه دې يوه يوه جمله د تختې پرمخ وليکي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. د نشه يي توکو نومونه دې واخلي او په زيانونو دې نورو ته معلومات ورکړي.

۳. لاندې پوښتنو ته مناسب ځوابونه ووايئ.

- د نشه يي توکو د عادت عوامل کوم دي؟
- نشه يي خلک ولې خپل ورځينې کارونه په سمه توګه نه شي تر سره کولی؟

۴. د لاندې کلمو ضد پيدا او د کلمو تر څنګه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ښه ـ ورځ ـ جګړه ـ خراب

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو د نشه يي توکو د زيانونو په هکله پوهه ترلاسه کړه؟
- ايا زده کوونکي کولی شي چې د نشه يي توکو دزيانونو په هکله خبرې وکړي؟
- زده کوونکي کولی شي چې د نشه يي توکو د زيانونو په هکله څو کرښې وليکي؟

کورنی دنده:

نشه يي انسان ولې خپل ورځينې کارونه په سمه توګه نشي ترسره کولی؟
په دې هکله څو کرښې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دوه د برشم لوست

د چينې غاړه

موخه: د متن لوستل، ليکل د چينې داوبو د ارزښتونو او ګټو په هکله معلومات ورکول او په متن کې د صفت د کلمو په نښه کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- تاسو په کوم ځای کې چينه ليدلې ده؟
- په کومو ځايونو کې چينې موجودې دي؟

الله پاک زمونږ د ګران هېواد په ځينو ځايونو کې ښکلې ا`و دخوندوروا وبو چينې پيدا کړې دي. د چينو اوبه ډېرې رڼې، پاکې او سړې دي. زمونږ خلک د څښاک له پاره د چينو اوبه کاروي. زياتره چينې د غرونو په لمنو او ښکلو درو کې موجودې وي، چې د هغوسيمو خلک ورځخه پوره ګټه اخلي. ښځې، نجونې او پېغلې د څښلو داوبو دراوړلو له پاره چينو ته ځي او په منګي کې اوبه راوړي. د چينې اوبه د خدای (جل جلاله) لوی نعمت دی، نو ددې وړيا نعمت په هکله زمونږ خلکو په لنډيو کې په ډېره ښه توګه د چينو يادونې کړې دي. غوره داده چې د چينو له اوبو سره بې پروايي ونه کړو او په هغو کې دچټليو د اچولو او يا نورو ورانيو څخه په کلکه ډډه وکړو او د دې طبيعي زېرمې په ساتنه کې ډېره پاملرنه ولرو.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن دې ولولي!
- د چينې د ارزښت په اړه دې معلومات ورکړي!
- په زده کوونکو باندې د متن له مخې د صفت کلمې پيدا او د تختې پرمخ وليکي.
- زده کوونکي دې وهڅوي چې د چينې په هکله نورې لنډې له يادې زده کړې او بيا دې په ټولګي کې وويايي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. د چينو د ساتلو په اړه دې څو زده کوونکي خبرې وکړي.

۳. پوښتنې:

- د چېنې اوبه ولې سړې دي؟
- د چېنې اوبه ولې رنې او پاکې دي؟

۴. لاندې کلمې ولولئ، په خپلو کتابچو کې يې وليکئ، د صفت کلمې په نښه کړئ او وروسته يې په جملو کې وکاروئ.

پاک_ چېنه_ هېواد_ ګران_ ښکلو_ غزنی_

ډېر_ ګټه_ خلک_ اوبه_ رنې_ پاملرنه_

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آيا دوی د چېنو د ارزښت او ګټو په اړه خبرې کولی شي؟
- زده کوونکو پوښتنو ته سم ځوابونه وويل؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې د چېنې د ارزښت او ګټو په اړه څو کرښې وليکئ!

ketabton.com - The Digital Library

درې د برشم لوست
خاص نوم

موخه: د متن لوستل، ليکل د خاص نوم پېژندل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- څوک ويلی شي چې خاص نوم کوم نوم ته وايي؟
- تاسې د خاص نوم څو بېلګې ووايئ!

خاص نوم: د ټاکلو اشخاصواو شيانو د نومونو له پاره کارول کېږي،

لکه: خوشحال ختک، جامی، ميرويس نيکه، غازي امان الله خان او نور...

د لاندې کلمو په هره برخه کې يو لړ خاص نومونه راوړل شوی دي تر لوستلو وروسته خاص نومونه پيدا کړئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

۱. خوشحال ختک، رحمان بابا، ملالۍ، زرغونه انا.

۲. ښارونه: کابل، ننګرهار، قندهار، پېښور، توکيو.

۳. هېوادونه: افغانستان، امريکا، ايران، پاکستان.

۴. سيندونه: هريرود، هلمند، آمو، کوکچه.

۵. بحيرې: کسپين، توره بحيره، مديترانه.

۶. اوقيانوسونه: د اطلس او قيانوس، د هند اوقيانوس.

۷. سيارې: عطارد، زهره، مريخ، زحل، او رانوس.

۸. ورځپاڼې: د کابل انيس ورځپاڼه، د کابل ښار د اصلاح او هېواد ورځپاڼې

۹. مجلې: د کابل عرفان، کابل، د کمکيانو انيس.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن په لوړ آواز ولولي.
- د خاص نوم د پېژندلو څو بېلګې دې پر تخته وليکي.
- لکه: افغانستان، بلخ.
- ښوونکی دې د متن نوې کلمې د تختې پر مخ وليکي. او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې خاص نومونه په ګوته کړي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن دې په لوړ آواز ولولي.

۲. په لاندې کلمو کې خاص نوم په نښه او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

رحمان بابا ـ زرغونه انا ـ کابل ـ ننګرهار ـ مزار شريف ـ ايران ـ د ننګرهار سپين غر آمو سيند.

۳. لاندې متن په خپلو کتابچو کې وليکئ، بيا تر خاصو نو مونو لاندې يې کرښه وکاږئ.

شېر باز اکا خپلو زامنو سورګل او چنار ګل ته نصيحت کاوه او ويل يې: «ګرانو زامنو! زما خبرې په غور سره واورئ. تل يو موټی اوسئ. څوک مه پرېږدئ چې ستاسو تر منځ درز واچوي. کومه رمه چې له ما څخه تاسو ته پاتې ده د زياتوالي په حال کې ده.

نو او س د پخوا په شان دا امکان نشته چې مېږې د څړ له پاره يوازې د بکوا دښتې ته بوځئ.

ښه به دا وي چې رمه د سپين غره او يا تور غره په لمنو کې وپايئ.

آرزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آيازده کوونکو د خاص نوم په اړه پوهه ترلاسه کړه؟
- په متن کې يې خاص نومونه پيدا کړای شول؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په کور کې څو خاص نومونه په کتابچو کې وليکي او بيا دې په جملو کې وکاروي.

يادونه:

بکوا د فراه په ولايت کې د يوې د ښتې نوم دی.

ketabton.com - The Digital Library

څلور د پرشم لوست

ګل پاچا الفت

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د ګل پاچا الفت پېژندل او په متن کې د خاص نوم په نښه کول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- آيا د ګل پاچا الفت په هکله څه ويلی شئ؟
- څوک کولی شي چې ددې ليکوال په هکله خپلو ټولګيوالو ته معلومات ورکړي؟

ګل پاچا الفت د مير سيد پاچا زوی په (۱۲۸۷) لمريز هجري کال د لغمان د قرغيو دولسوالۍ په عزيز خان کڅ کې زيږيدلی و، دی يو پوه او فاضل انسان و. د خپل وخت پوهې يې حاصل کړې، څرنګه چې د غه ستر اونومیالی ليکوال او شاعر د زده کړې په پړاو کې ډېر ذکي او هوښيار و، نو پرخپلو استاذانو ډېر ګران و.

نومورې کلونه کلونه دهېواد په علمي او فرهنګي ټولنو کې دنده تر سره کړې ده. ډېرکتابونه يې ليکلي دي. «غوره نثرونه» او «غوره اشعار» يې مشهور کتابونه دي.

ښاغلی الفت په خپلو ليکنو کې مورِ ته بلنه را کوي چې علم او پوهه زده کړو او عمل ورباندې وکړو. لکه چې وايي: بې عمله پوهه د غلطې پوهې مثال لري او غلطه پوهه له انسان څخه شيطان جوړوي. همدا رنګ خپل هېواد اوخلک ورباندې ګران وو او ټول افغانان ددې هېواد بچيان بولي، لکه چې وايي:

ديوه وطن او لاديو تبر له سره په هېواد يو

دا وطن دی په مورِ ګران

دا وطن دی د افغان

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن په لوړ آواز ولولي.
- ښوونکی دې دمتن د مهمو ټکو په هکله زده کوونکو ته ګټور معلومات ورکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په چوپتیا سره ولولي.

۲. لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې تش ځایونه په مناسبو کلمو سره بشپړ کړئ.

_____ یو پوه او فاضل انسان و، په سلګونو کتابونه یې لیکلي دي.

ښاغلی الفت یو ښه _____او لیکوال و.

د ښاغلي الفت _____ مشهور کتابونه دي.

۳. د لوستل شوي شعر مطلب په نثر واړئ او په خپلوکتابچو کې یې ولیکئ.

۴. په متن کې خاص نوم پیدا او په خپلوکتابچو کې یې ولیکئ.

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکي دګل پاچا الفت په هکله خبرې کولی شي؟
- زده کوونکو د شعر مطلب په نثر ولیکلی شو؟
- زده کوونکو په متن کې خاص نومونه پیدا کړل؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ګل پاچا الفت په اړه، څه چې یې زده کړل، څو کرښې ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

پنځه دېرشم لوست
عام نوم

موخه: د متن لوستل، ليکل، دعام نوم پېژندل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ستاسو په فکر عام نوم څه ډول نوم ته ويل کېږي؟
- تاسې کولی شئ چې د عام نوم څو بېلګې ووايئ؟

عام نوم: هغه نوم ته وايي چې په خاصو او ټاکلو شيانو او ځايونو د لالت نه کوي. عام نوم هغه خپلواکه معنا واله کلمه ده چې په خپل ځان او د خپل ځان په شان نور موجودات په عامه بڼه رابنيي.

د مثال په توګه: سړی، ونې، بزګران، بازار، ښار، کلی، باندې. ښځه، نجونې، هلکان، استاذ، کتاب، قلم، کور.

لاندې جملې ولولئ تر کومو کلمو لاندې چې کرښه ايستل شوې ده هغو ته پام وکړئ:

۱. په ښوونځي کې زده کوونکي زده کړه کوي.
۲. سېلاب راغی او ونې يې له بېخه وايستې.
۳. د اطفايې کارکوونکو نن په بازار کې ډېر زيات اور مړکړ.
۴. د کابل په ښار کې څوکاله د مخه داسې بسونه په کار لويدلي وو چې د برېښنا په واسطه يې کار کاوه.
۵. ځينې خلک په ښار او ځينې يې په کلي او باندو کې ژوند کوي.

په پورتنيو جملو کې ښوونځي، زده کوونکي، ونې، کارکوونکي، بازار، اور، ښار، کلي، باندې، بسونه، او برېښنا داسې کلمې دي چې يو ټاکلی شخص او يا شی نه ښيي، بلکې عام نوم را ښيي، ځکه ذکر شوي نوم ته عام نوم وايي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ آواز ولولئ.
- د عام نوم د مثالونو په ورکولو سره زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.
- له متن څخه عام نوم پر تخته وليکئ لکه: ښوونځی.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن يو د بل په مرسته په چوپتيا سره ولولئ.

۲. هر ګروپ دې د عام نوم په معنا او مفهوم په خپل منځ کې خبرې وکړي او بيا دې له هر ګروپ څخه يو تن د ټولګي په مخکې د عام نوم تعريف له يادې ووايي او څو عام نومونه دې د ببلګې په توګه پر تخته وليکي.

۳. لاندې شعر تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې وليکئ او تر عامو نومونو لاندې يې کرښه وکاږئ.

مردان هغه دي چې همت ناک وي　　د ننګ په کار کې چست وچالاک وي

خوشحال خټک

۴. لاندې متن ولولئ او يوازې عام نومونه پيدا او په کتابچو کې يې وليکئ.

افغانستان يو زراعتي هېواد دی. ډېر خلک يې په بزګرۍ او مالدارۍ بوخت دي. دوی په کرونده کې له ماشينونو او ټرکټورونو څخه ګټه اخلي، زمونږ د هېواد زيات شمېر خلک د کورنيو څارويو له حاصلاتو، لکه شيدې، مستې، پوڅې، غوښې او غوړو څخه ګټه اخلي او همدا ډول له وړيو، پوستکو، کولمو او د څارويو له ښکرونو څخه هم ګټه اخلي، چې زمونږ د هېواد د صادراتو لوبه برخه جوړوي.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو د عام نوم په هکله پوهه تر لاسه کړه؟
- زده کوونکي د عام نوم په اړه خبرې کولی شي او ببلګې يې په نومونواو کلمو کې ويلی شي؟
- زده کوونکي د خپلو زده کړو څخه د خوښۍ احساس کوي؟
- آيا دوی وکولی شول چې په ورکړل شوي متن کې عام نومونه پيدا کړي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې پنځه عام نومونه له يادې په خپلو کتابچو کې وليکي او په جملو کې دې وکاروي.

ketabton.com - The Digital Library

شپږ د پرشم لوست
لمریز نظام

موخه: د متن لوستل، لیکل د لمریز نظام په اړه معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ویلی شئ چې لمریز نظام یعنی څه؟
- آیا پوهیږئ چې زمونږ په لمریز نظام کې څو سیارې موجودې دي؟

کله چې مونږ آسمان ته ګورو، د ورځې لمر او د شپې په کې سپوږمۍ او ستوري وینو. د لمر په وجه ورځ رڼا وي، آسمان د شپې له خوا په ستورو او سپوږمۍ ښکلی ښکاري.

په لمریز نظام کې (۹) سیارې موجودې دي چې ټولې د لمر په شاو خواکې څرخي. یوازې ځمکه په (۳۶۵) ورځو او شپږو ساعتونو کې چې یو کال دی یو ځل له ځمکې څخه راڅرخي.

سیارې په خپله رڼا نه لري. خپله رڼا له لمر څخه اخلي. کله چې مونږ د شپې له خوا آسمان ته ګورو ډېر ستوري وینو او د ورځې له خوا مونږ دا ستوري نشولیدلی، ځکه د لمر رڼا ډېره زیاته وي.

لمریز نظام د خدای تعالی (جل جلاله) د قدرتونو یوه روښانه نښه ده.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ آواز ولولئ.
- د لمريز نظام په اړه د زده کوونکو د پوهې او سويې په پام کې نيولو سره معلومات ورکړئ.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. لغتونه او معناګاني

الف: وجه سبب

ب: سياره هغه ستوري چې دلمر په شاوخوا څرخېږي او خپله رڼا نه لري.

ج: نښه علامه

د: نظام جوړښت او ترتيب

۲. د لاندې جملو تش ځايونه په ورکړل شوو مناسبو ربطي تو رو سره ډک او په خپلو کتابچوکې وليکي.

- آسمان _____ شپې له خوا په ستورو او سپوږمۍ ښکلی ښکاري.
- (په، د، له، چې)
- په شمسی نظام _____ نهه سياري موجودې دي.
- (کې، د، څخه، له)
- سياري خپله رڼا د لمر _____ اخلي.
- (چې، کې، څخه، په)
- کله چې موږ آسمان _____ د شپې ګورو، ډېر ستوري وينو.
- (چې، کې، په، ته)
- ځمکه په ۳۶۵ ورځو، او شپږو ساعتونو کې يوځل دلمر په _____ را څرخي.
(شا، خوا، شاوخوا)

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د لمريز نظام په هکله خبرې کولی شي؟
- آيا زده کوونکي د پوهې او معلوماتو لاس ته راوړلو څخه د خوښۍ احساس کوي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د لمريز نظام په هکله څو کرښې مقاله وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اووه د پرشم لوست
ابن سينا

موخه: د متن لوستل، ليکل،او د ابن سينا په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ابن سينا څوک و؟
- څه فکر کوئ چې دغه عالم په کومو، علومو کې پوره لاس درلود؟

ابن سينا د نړۍ مشهور عالم او. د بخارا په ښار کې زېږيدلی و.

نوموړی لا د شلو کلونه و چې د خپل وخت د يوه پوه شخص په نوم يادېده.

ابن سينا سربېره پردې په شاعرۍ کې هم مشهور و. ابن سينا د طب په هکله شپاړس کتابونه ليکلي دي. خورا مشهور کتاب يې د (القانون فی الطب) په نوم يادېږي. له دې کتاب څخه تر شپږ سوو کلونو زيات د درسي کتاب په توګه ګټه اخيستل کېده. او س هم په ځينو ځايونو کې له نوموړي کتاب څخه ګټه اخيستل کېږي. د ا کتاب د عصري طب بنسټ جوړوي.

ابن سينا د فلسفې او عقايدو په هکله (۲۸) کتابونه ليکلي دي. همدا ډول يوولس کتابونه يې د نجوم او ساينس په برخه او څلور کتابونه يې د شعر او شاعرۍ په اړه ليکلي دي. دنړۍ او سنی طبابت دهغه له معلوماتو څخه منځ ته راغلی او د نړۍ ټول خلک د ابن سينا خدمتونو ته په درنه سترګه ګوري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن په لوړ آواز ولولي.
- ښوونکی دې د ابن سینا په اړه معلومات ورکړي.
- ښوونکی دې نوې کلمې په تخته وليکي او معنا دې کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن د یو بل په مرسته په چوپتیا سره ولولي.
څو تنه زده کوونکي دې د ابن سینا په اړه څه چې یې له متن څخه زده کړل معلومات وړاندې کړي.

۲. لاندې لغتونه معنا شوي دي تاسې له هرې کلمې څنې جملې جوړې کړئ.

مشهور _____	(د شهرت خاوند)
طبابت _____	(درملنه)
سربېره _____	(علاوه)
نجوم _____	(دستورو علم)
عصري _____	(د زمانې سره سم)
بنسټ _____	(اساس)

۳. دلاندې پوښتنو له پاره په شفاهي توګه سم ځوابونه ورکړئ.

- ابن سینا په کوم ښار کې زیږېدلی و ؟
- ابن سینا په کومو علومو کې پوره لاس درلوده؟
- ابن سینا څو کتابونه لیکلي دي؟

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکي وپوهېدل چې دغه پوه عالم کوم کوم کتابونه لیکلي دي؟
- آیا زده کوونکو وکولی شول چې پوښتنو ته سم ځوابونه ورکړي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ابن سینا په اړه یوه لنډه مقاله وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اته دپرشم لوست

دونې ربنې

موخه: د متن لوستل، ليکل او د ونې ربنو په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- تاسو د ونې ربنې ليدلی دي؟
- د ونو هغه برخه چې د خاورو لاندې ده څه نومیږي؟
- ستاسو په نظر دونو ربنې څه دنده لري؟

کله چې تاسو ونې ته ګورئ نو یوازې پانې، څانګې او تنه یې ستاسو په نظر راځي. خو دونو هغه برخه چې ترځمکې لاندې ده او د ریښو په نوم یادیږي تاسو یې نه وینئ.

ریښې هم د څانګو په شان لویې او کوچنۍ دي. تر ځمکې لاندې وي او په ستر ګو نه لیدل کیږي د ځینو ونو ریښې دهغو ونو د څانګو په اندازه په ځمکه کې غځیدلي دي.

ځینې ریښې په ځمکه کې ژورې تللي وي او ځینې د ځمکې سطحې ته نږدې وي. دریښو یوه دنده داده چې ونه په خپل ځای ټینګه ساتي. که ونه ربنې ونه لري نو ټیز بادیې رانسکوروي.

تاسو به لیدلي وي چې زیاتې ونې دزیاتو ټیزو بادونو سره ټینګې ولاړې وي.چې دا ټینګوالی یې د زیاتو او کلکو ریښو دشته والي له امله دي.تاسو ته څرګنده ده چې ونې اوبو او خواړو ته اړتیا لري. ونې د ربنو په وسیله له ځمکې څخه اوبه او خواړه جذبوي. د ریښو په پای کې د وښتانو په شان کوچنۍ ریښې موجودې دي.همدا کوچنۍ ریښې اوبه او خواړه جذبوي. بیا یې پانو او څانګو ته لیږدوي په کار داده چې مور ونو ته په مناسب وخت سره اوبه ور کړواو د شاوخوا خاوره یې نرمه وساتو.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن ولوله!
- د ونو د ریښو په هکله معلومات ورکړه!

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې لوست په لوړ آواز ولولي او څونور زده کوونکي دې دوني د ریښو په اړه خپل معلومات نوروته وړاندې کړي.

۲. دلاند ې کلمو متضادې کلمې له چوکاټ څخه وټاکئ او دکلمو تر څنګ يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

سست، پیل، پاس، ورو، لړې	لاندې _____ نږدی _____ ټینګه _____ تېز _____

۳. لاندې نیمګړې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ!

ریښې هم د څانګو په شان لویې او _____ وي.

د ځینو ونو ریښې د هغوونو د څانګو په اندازه په ځمکه کې _____ وي.

د ریښو یوه دنده داده چې ونه په خپل ځای _____ ساتي.

۴. زده کوونکي دې یو بل ته دلوست له مخې املا ووایي.

ارزونه:

- زده کوونکي د لوست متن لوستلی شي؟
- زده کوونکي په دې پوه شول چې د ونو ریښې څه دنده لري؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ونې دجوړښت په هکله څو کرښې وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

نهه د برشم لوست

چاپېريال (محيط)

موخه: د متن لوستل، ليکل، د چاپېريال پېژندنه، د چاپېريال د ارزښت او ګټو په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ويلی شئ چې زمور چاپېريال له څه شی څخه جوړ شوی دی؟
- په هغه ځای کې چې مور ژوند کوو د څه شي په نوم يادېږي؟

هر هغه څه چې زمور په شاو خوا کې دي. زمور چاپېريال يا محيط دی. زمور کور، کلی، ښوونځي، سړکونه، د لوبو ځای، خلک، هغه ښار او کلي چې مور پکې اوسېږو، او هغه هوا چې مور يې تنفس کوو دا ټول زمور د چاپېريال يوه برخه ده. ځمکه د ټولو ژويو او الوتونکو مرغانو له پاره چاپېريال ياد ژوند محيط دی. زمور چاپېريال پر مور ډېره اغېزه لري.

مور د روښنايي او تودوخې سرچېره په زرګونو نورو شيانو ته اړتيا لرو. د نړۍ د وګړيو شمېر ورځ په ورځ په زياتېدو دی. ډېر هغه څه چې مور يې کاروو، د چاپېريال د ککړتيا سبب کېږي. چې دا ککړتيا بيا ډېری ناروغۍ رامنځ ته کوي.

د ټولو خلکو دنده ده چې بايد خپل چاپېريال پاک او سوتره وساتي. هغه مواد چې زمور د چاپېريال د ککړتيا سبب ګرځي په دوه ډوله دی:

يو هغه چې په ځمکه کې تجزيه کېږي او چې د خاورې سره يو ځای شي ځمکه د کښت له پاره قوي کوي. دوهم ډول هغه فضله مواد دي چې د تجزيه کېدلو وړنه وي لکه پلاستيک او داسې نور. که چېرې پلاستيک په ځمکه کې وي هغه په خپلو اجزاو نه تجزيه کېږي که څاروي يې وخوري ناروغه کېږي او حتی د مړينې سبب يې ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن دې په لوړ آواز ولولي.
- د چاپېريال د ارزښت او ګټو په اړه د زده کوونکو نظريات او معلومات واورئ او زده کوونکي وهڅوئ چې په دې اړه بحث او خبرې وکړي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن يو د بل په مرسته ولولئ!

۲. څوتنه زده کوونکي دې د چاپېريال په اړه خبرې وکړي.

۳. د لاندې کلمو هم معنا له چوکاټ څخه پيدا او د کلمو څنګ ته يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

شاوخوا، حيواناتو، ضرورت، دنيا، خلکو، توکي، ضرر	چاپېريال _____ ژويو _____ اړتيا _____ نړۍ _____ وګړيو _____ زيان _____ مواد _____

۴. پوښتنې:

الف: چاپېريال څه ته وايي؟ ب: د چاپېريال د ککړتيا علت څه دی؟

ج: ببکاره يا فضله مواد بايد څه کړو؟ د: د چاپېريال ساتنه د چا دنده ده؟

۵. د لاندې جملو تش ځايونه د لېندې په مناسبو او سمو کلمو سره په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

الف: هر هغه څه چې ستاسو شاوخوا کې دي ستاسو چاپېريال _____.(و ، کړ، دی)

ب: ستاسو چاپېريال پرتاسو ډېرې اغېزې ___

(لري، کړي، درلود)

ج: که څاروي پلاستيک _____ هغوی ته ډېر زيان رسوي.

(وخوري، خوړي، وخوړ)

د: د محيط ساتنه دټولو خلکو دنده _____. (دی،ده،وي،)

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د ژوند چاپېريال په هکله يې معلومات ترلاسه کړ؟
- زده کوونکي د ژوند چاپېريال په اړه خبرې کولی شي؟

کورنۍ دنده:

هر هغه څه چې ستاسو په چاپېريال کې موجود دي نومونه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې په جملو کې وکاروئ.

ketabton.com - The Digital Library

څلوېښتم لوست
مفرد نوم

موخه: د متن لوستل، ليکل، د مفرد نوم په معنا او مفهوم پوهېدل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ويلی شئ چې د مفرد نوم څه ډول نوم ته وايي؟
- آيا د مفرد نوم بېلګې ويلی شئ؟

مفرد نوم: هغه دی چې په يوه ځانګړي شخص، حيوان اوشي باندې د لالت وکړي لکه: ښوونکی، ترکان، قلم، مشوانۍ، پياله او داسې نور.

لاندې جملو ته پام وکړئ او ويې لولئ.

۱. ښوونکي په لوست پيل وکړ.
۲. د جمال پلار ترکان دی.
۳. دغه قلم شين رنګ لري.
۴. د دې مشوانۍ رنګ تور دی.
۵. دغه پياله ښکلې ده.
۶. هغه چرګ سپين رنګ لري.
۷. د اجمل اکا يو آس لري.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي. بیا دې د مفرد نوم په اړه لنډ معلومات ورکړي.
- ښوونکی دې څو نومونه د تختې پرمخ ولیکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې مفرد نومونه په ګوته کړي.

دزده کوونکو فعالیت:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. زده کوونکي دې لاندې جملې ولولي او یو بل سره دې مفرد نومونه په ګوته کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

محمد ګل د پنځم ټولګي زده کوونکی دی.

محمد ګل هر سهار وختي له خوبه پاڅیږي لومړی لمونځ کوي ترڅای څښلو وروسته بیا ښوونځي ته ځي.

۳. لاندې شعر ولولئ! په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ! مفرد نومونه یې په ګوته کړئ اوبیا یې په څپو واړوئ.

ای دهقانه وخت د کار اوستا دزیار دی
ستا د لاس ګټې ته هرڅوک امیدواردی
خپل وطن په هر راز بوټو ښایسته کړه
ستا په زیار سره وطن ګل وګلزاردی

۴. لاندې نیمګړې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې په مفردو کلمو سره بشپړې کړئ.

- _____ زده کوونکو ته درس ورکوي.
- زما ټولګیوال اجمل _____ د ننګرهار په ښار کې دي.

۵. څو جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ چې مفرد نوم په کې وکارول شي.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو وکولی شول چې په ورکړل شوو جملو کې د مفرد نوم پیدا کړي؟
- آیا زده کوونکي په شعر کې د مفرد نومونه پیدا او هره کلمه یې په څپو واړوله؟

کورنی دنده:

شپږ مفرد نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې په جملو کې وکاروئ.

ketabton.com - The Digital Library

يو څلوېښتم لوست
کولالي

موخه: د متن لوستل، ليکل، د کولالي په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- ويلی شئ چې کولال څوک دی؟
- آيا ستاسو په کليوا و سيمو کې کولال شته؟
- له کولالي پرته دځو نورو کسبونو نومونه واخلئ؟

يوه ورځ ښوونکي له خپلو زده کوونکو څخه پوښتنه وکړه. هغه څوک چې له خټو څخه مور ته شيان جوړوي څه نومېږي؟

اجمل لاس پورته کړ اوويې و يل: کولال نومېږي.

ښوونکي بيا پوښتنه وکړه: چې کولال زمور له پاره کوم شيان جوړوي؟

ميرويس وويل: کولال له خټو څخه منګي، کوزې، کاسې، ګلدانۍ، متونه، کنډولی، تنور، او نور شيان جوړوي.

شيرشاه پوښتنه وکړه: آيا مور هم کولی شو چې له خټو څخه داسې ښکلي شيان جوړ کړو؟ ښوونکي وويل: هو! خو دا کار جلا پوهه او تجربه غواړي.

ريدی وويل: که مور د کولال کار

ketabton.com - The Digital Library

وګورو ، نوښايي چې ځينی شيان ور څخه زده کړو.

ښوونکي وويل: ډېر ښه سبا به د کولال د کار ځای ته ورشوسهار چې زده کوونکي ټولګي ته راغلل، ښوونکي وويل: د مخه تردې چې د کولال ځای ته لاړ شو ، مورږ بايد کومې خبرې او لارښوونې په پام کې ونيسو؟اسد وويل: مورږ بايد د لارې په يوه غاړه ولاړشو.

خټک وويل: د دې له پاره چې په کولالی کې څه شی مات نه کړو نو په کار داده چې لوښو ته به لاس نه ور وړو.

ښوونکي وويل: ډېرې ښې لارښوونې مو وکړې که چېرې مورږ له دې خبرو سره سم چلند وکړو ، له دې کتنې څخه به ډېرخوند واخلو او معلومات به ترلاسه کړو.

زده کوونکي د خپل ښوونکي سره يو ځای د لارې په څنډه د کولال د دوکان په لور روان شول کله چې کولالي ته ورسېدل ښوونکي وويل وګورئ دلته د کولالی دماتو لوښو څومره کودي پراته دي.

دکولال د کور په مخکې د کولال زامنو او لونې کار کاوه، ځينو خټه په لرګيو وهله او ځينو خاوره چاړوله. ښوونکي او زده کوونکو د کولال ماما سره روغبړ وکړ سمندر تري پوښتنه وکړه: کولال ماما: دا خاوره ولې په لرګيو وهئ؟

کولال وويل: د دې له پاره چې خاوره ښه پخه شي. اجمل پوښتنه وکړه ولې دوی خاورې چاړوي؟ کولال وويل: ځکه چې وړې تيرې ځنې جلا او ببلې شي.جمال پوښتنه وکړه کولال ماما ، دا خاوره له کوم ځای څخه راوړئ؟

کولال وويل: له غره څخه يې راوړو. دا خاوره په هر ځای کې نه پيدا کېږي ځکه د خاورينو لوښو د جوړولو له پاره متينه او پخه خټه په کار وي. زرغون وويل: خټه څنګه جوړوئ؟ کولال وويل: کله چې خاوره له وړو ډبرو څخه په چاړولو جلا شي

ketabton.com - The Digital Library

بيا اوبه پکې اچوو چې ښه لنده شي. کله چې ختمه ښه پخه شوه نو بيا يې څرخ ته راوړو.

بريالي وويل: کولال ماما! لاس دې ولې دومره ژر ژر په اوبو لندوې؟

کولال وويل: د دې له پاره لاس په اوبو لندوم چې ختمه مې په لاس پورې ونه نښلي .

توريالي وويل: کولال ماما! د لوښي منځ ته ولې دومره په کراره لاس ورننه باسې؟

کولال ځواب ورکړ: د دې له پاره چې دلوښي منځ هم سم جوړ شي، نو په کراره لاس ور وړم.

ريدی وويل: وګورئ، څه ښه نقش يې پرې کښلی او څومره ښکلی لوښی ځنې جوړ شو. سور ګل پوښتنه وکړه: کولال ماما دا منګی څو ورځې لمر ته وړئ؟

کولال وويل څلور يا پنځه ورځې چې ښه وچ شي ترڅو په داش کې مات نشي. بيا يې په داش کې وړو چې پاخه شي. راځئ، چې داش او بټۍ هم دروښيم. بټۍ دوه پوړه لري.

لومړی لوښي په کراره د بټۍ په پاسني پوړ کې وړو او بيا په لاندنۍ پوړ کې اور بلوو څو شېبې وروسته لوښي په پاسني پوړ کې پخېږي، کله چې بټۍ سړه شي بيا لوښي ځنې راباسو.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي.
- د کولالي په اړه دې معلومات ورکړي.
- نوې کلمې دې د تختې په مخ ولیکي او معنا دې کړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په چوپتیا سره ولولي.

۲. لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ بیا د مفردو نومونو لاندې کرښه وکاږئ.

ښوونکي، میرویس، اجمل، کولالي، شیر، ایمل،
سهار، اسد، خټک، سمندر، جمال، توریالی، ریدي.

۳. لاندې معنا شوي لغتونه په جملو کې وکاروئ او بیا یې په کتابچو کې ولیکئ.

بټۍ	داش
لوښي	ظروف، له خټو څخه جوړ شوي شیان
پوړ	منزل
زرغون	شین

۴. زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې له متن څخه د ضمیر کلمې پیدا او ولیکي.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آیا زده کوونکو کولال او د هغه د دندې په هکله پوهه او معلومات پیدا کړل؟
- دکولالي په اړه معلومات ورکولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د کولالي د کسب په اړه څو کرښې مقاله ولیکي.

ketabton.com - The Digital Library

دوه څلوېښتم لوست
نیوټن

موخه: د متن لوستل، لیکل د نیوټن پېژندنه او د ځمکې د جاذبې قوې په اړه معلومات ورکول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- د نیوټن نوم خو به مو اورېدلی وي هغه څوک او کوم خدمت یې کړی دی؟
- ویلی شئ چې د جاذبې قوه څه ته وایي؟

نیوټن یو ساینس پوه و چې تقریباً (۳۰۰) کاله د مخه یې په انګلستان کې ژوند کاوه. وایي چې یوه ورځ نیوټن د مېز تر یوې وني لاندې ناست و. یوه مېنه له وني څخه و لوېده او د نیوټن په سر ولګیده. نیوټن د مېز له رالوېدو څخه په دې فکر کې شو چې هر شی ولې ځمکې ته را لوېږي؟ له ډېرې څېړنې وروسته هغه په دې پوه شو چې د ځمکې د جاذبې قوه پر شیانو باندې اغېزه کوي او هغه د ځمکې خواته را کاږي.

آیا تاسو پوهېږئ چې مېز ولې له وني څخه را لوېږي؟ یا یو توپ د مېز له سر څخه ولې ښکته پر ځمکه را لوېږي؟

ځواب یې دا دی چې ځمکه یوه قوه لري چې هر شی د ځان خواته را کاږي. او دې ته د ځمکې جاذبه قوه وایي. د ځمکې جاذبه قوه هغه د ځمکې د مرکز خوا ته را کش کوي. هر څومره چې یو شی د ځمکې سطحی ته نژدې وي د ځمکې د جاذبې د قوې په سبب وزن پیدا کوي.

هر څومره چې مور له ځمکې څخه لېرې شو د ځمکې د جاذبې اغېزه کمېږي. باید ووایو چې د جاذبې قوه په هر شي باندې که لوی وي او که واړه ، اغېزه لري. نیوټن هغه عالم او پوه و چې د ساینس د علم په ساحه کې یې د ځمکې د جاذبې قانون کشف کړ.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن دې ولولي.
- د جاذبې قوې په اړه چې نیوټن څنګه کشف کړه معلومات ورکړه!

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن یو له بل سره ولولئ!
۲. د جاذبې قوې په اړه په خپلو ګروپونو کې خبرې وکړئ!
۳. لغتونه او معناګانې
الف: جاذبه کشش
ب: اغیزه تاثیر
ج: نبغ مستقیم
د: کشف د یوه نوي شي پیدا کول
۴. د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.
الف: نیوټن د ځمکې د جاذبې قانون _____کړ.
ب: نیوټن یو _____ و.
ج: ځمکه هر شی د ځان لورې ته را کاږي ځکه چې ځمکه دجاذبې قوه _____.
۵. لاندې پوښتنو ته سم ځوابونه وټاکئ.
- د ځمکې د جاذبې قوه هر شی کومې خواته را کش کوي؟
الف: د ځمکې د مرکز خواته.
ب: د ځمکې د سطحې خواته.
ج: د شمال خواته.
د: د جنوب خواته.
- کوم شی د جاذبې قوه لري؟
الف: یواځې ځمکه.
ب: یواځې سپوږمۍ.
ج: هر شی.
د: هیڅ شی.

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د نیوټن په اړه یې پوهه یا معلومات ترلاسه کړل؟
- زده کوونکي په دې هکله خبرې کولی شي چې هر شی ولې د ځمکې خواته لویږي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلوکتابچو کې په جملو کې وکاروي.
(د جاذبې قوه، نیوټن، ځمکه، کشف)

ketabton.com - The Digital Library

درې څلوېښتم لوست
د جمع نوم

موخه: د متن لوستل، ليکل د جمع نوم پېژندل او په جملو کې يې کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- د جمع نوم څه ډول کلمه ده؟
- کومې شئ چې د جمع څو نومونه ووايئ؟

د جمع نوم: هغه نوم دی چې له يوه څخه پر زياتو اشخاصو، څارويو او شيانو دلالت وکړي. لکه ښوونکي، نجونې، هلکان، ونې، پسونه، خوېندې، ورونه، کتابونه، ګېلاسونه اوداسې نور.

په پښتو ژبه کې که وغواړو چې د ځينو مفرد و نومونو په پای کې د غ ه. (ونه، آن، يان، ګاني (ه) اوږده، (ې) څرګنده، (ي) وروستاړي راوړو په جمعو کلمو باندې بدليږي.

لکه:	مفرد	جمع
	مېز	مېزونه
	مېږی	مېږي
	دوبي	دوبيان
	هلک	هلکان
	بزګر	بزګران
	کارګر	کارګران
	بيزو	بيزوګان
	خور	خوېندې
	سړی	سړي

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي.
- د جمع نوم په اړه دې زده کوونکو ته د بېلګو په وړاندې کولو سره معلومات ورکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي.

۲. له هر ګروپ څخه دې یو یو تن دتولګي مخې ته راشي او دا کلمې (ګېلاسونه، ونې، هلکان، ورونه،) پرتخته باندې ولیکي نور تولګیوال دې همدغه دجمع کلمې په جملو کې وکاروي.

۳. دجمع د نوم تعریف په لاندې جملو کې په ټنبه کړئ!

الف: جمع هغه کلمه ده چې پر یوه شي باندې دلالت کوي.

ب: جمع هغه کلمه ده چې له یوه شي څخه پر زیاتو شیانو دلالت کوي.

۴. دلاندې مفردو کلمو څخه د جمع نومونه جوړ کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

ونه، پېغله، نجلۍ، هلک، غر، سیند، باغ، پسه مېږه، آس، بوټ، مرغه، مور، پلار، اکا، نیکه

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکي د جمع په معنا او مفهوم پوه شوي دي؟
- زده کوونکو وکولی شول چې د مفردو نومونو څخه د جمع نومونه جوړ کړي؟

کورنۍ دنده:

لاندې جملې ولولئ! جمع نومونه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

افغانستان ډېر غرونه لري.

زمونږ په هېواد کې د مېږو باغونه ډېر دي.

ټول افغانان سره ورونه دي.

کوچیان په اوړي کې سړو سیمو ته کډې کوي.

ketabton.com - The Digital Library

څلور څلويښتم لوست
شپږ پلورونکی

موخه: د متن لوستل، لیکل، اوزده کوونکي په دې پوه شي چې په شپږ وکې اوبه ګډول لویه ګناه ده او باید تري ډډه وشي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ستاسو په نظر د شپږو په پلورلو کې د اوبو ګډول ښه عمل دی؟
- څه فکر کوئ چې د دې کیسې پایله به څه وي؟

وایي چې یوه سړي څومړۍ او وزې درلودې چې ډېره ښه ساتنه به یې کوله. سهار او مانښام به یې له دې څارویو څخه ډېرې شپږې اخیستلې. چې کله به یې شپږې با زار ته د خرڅولو له پاره یوړې نو یوه اندازه اوبه به یې په کې ورګډې کړې چې شپږې زیاتې شي او ډېرې پیسې پرې لاس ته راوړي. وزو او مړو به بچي زېږول او هرکال به یې شمېر زیاتېده.

څه موده وروسته د وزو او مړو یوه لویه رمه جوړه شوه. څومره چې شپږې زیاتیدې هومره به یې پکې زیاتې اوبه اچولې او ډېرې پیسې به یې لاس ته راوړې. کلیوال چې دده په ټکۍ پوه شول نو ښېراوې به یې ورته کولې.

یوه ورځ د مني په موسم کې ډېر سخت باران واوریده او لوی سېلاب روان شو، څو تنو رونه هم ولوېدل سېلاب نور هم زور واخیست. د دغه سړي مړۍ او وزې چې په نړۍ کې یې څړ بوختې وې، نیمایي یې سېلاب په یوه څپه کې

ketabton.com - The Digital Library

واخیستې او ویوړې، خلکو به ویل: دغه سړي چې په شپدو کې څومره اوبه اچولې وې هغه ورته سپلاب شو او د ده نیمه رمه یې یووړه.

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې نوی لوست په لوړ آواز ولولي او بیا دې په مطلب خبرې وکړي.
- ښوونکی دې له څو زده کوونکو څخه وغواړي چې په وار سره د کیسې په موخه خبرې وکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن په مناسب آواز ولولئ!

۲. زده کوونکي دې له متن څخه یو بل ته د څو جملو املا ووایي او خپلې تیروتنې دې اصلاح کړي.

۳. پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

سړي ولې په شیدو کې اوبه اچولې؟

د دې لوست اصلي مطلب څه شی دی؟

مور باید په پلورلوکې څه شی په پام کې ونیسو؟

۴. له لاندې مفردو کلمو څخه په خپلو کتابچو کې دجمع کلمې جوړې کړئ.

وزه ، موسم، تندر، میږه، باران، خور، کلی ، سپلاب

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن لوستلی شي؟
- دکیسې په موخه پوه شول؟
- زده کوونکي په شفاهي توګه پوښتنوته ځوابونه ویلی شي؟
- آیا زده کوونکي پوه شول چې په هر کار کې ټګي نه کار نه دی او باید تر یې ډډه وکړو؟

کورنی دنده:

زده کوونکي دې د لاندې پوښتنې موخه په څو کرښو کې وليکي.

(د دغه سړي نیمایي میږی او وزې ولې سپلاب یوړې؟)

ketabton.com - The Digital Library

پنځه څلوېښتم لوست
صفت

موخه: دمتن لوستل، ليکل د صفت په معنا پوهېدل او په جملوکې د صفت کارول دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- ستاسې په فکر صفت څه ډول کلمې ته وايي؟
- کولی شئ چې داسې جملې ووايئ چې د صفت کلمه پکې استعمال شي؟

صفت: هغه کلمه ده چې د نوم څرنګوالی څرګندوي.

لکه: ښه، ښکلی، ډېر، هوښيار، سپين، تور، او داسې نور.

لاندې جملې ولولئ او هغو کلمو ته ځير شئ چې کرښه ورلاندې ايستل شوې ده.

۱. تکړه زده کوونکي تل سبق وايي.

۲. هوښيار زده کوونکي د مفاهمې په وخت کې د يو بل خبرو ته غوږ نيسي.

۳. زمورږ ښوونکي له موږ سره په درسونو کې ډېره مرسته کوي.

۴. د پاکو اوبو څښل بدن ته ګټه لري.

په پورتنيو جملو کې (تکړه، هوښيار، ډېره، پاکو) د صفت کلمې دي.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- ښوونکی دې متن ولولي.
- د صفت د کلمې په هکله دې معلومات ورکړی او څو صفتونه دې پرتخته وليکي.
- ښوونکی دې صفت لرونکي جملې پر زده کوونکو باندې د املا په ډول کار کړي او بيا دې د صفت کلمې په ګوته کړي.

دزده کوونکو فعاليتونه:

۱. متن په چوپتيا سره ولولئ!

۲. لاندې جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې د صفت تر کلمې لاندې کرښه وکاږئ.

- د پخو مېوو خوړل بدن ته ګټه لري.
- زيار کښ بزګر له خپلې ځمکې څخه زيات حاصل اخلي.
- سپينه کوتره د سولې نښه ده.
- د کندز ختيکي ډېر خوارې دي.

۳. لاندې شعر تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې د صفت کلمې په نښه اوويې ليکئ.

ښکلی باغ تازه چمن ود ګلانو
شين سحر او شورو شرو دمرغانو
په سل قسمه آوازونه ښې نغمې وې
هر طرف ته دبلبلو ترانې وې

ارزونه:

- آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- د صفت په معنا او مفهوم پوه شول؟
- صفتونه له يادې ويلی او په جملو کې يې کار ولی شي؟
- زده کوونکو په شعرکې د صفتونو کلمې پيدا کړی شوې؟

کورنی دنده:

زده کوونکي دې لاندې د صفت کلمې په جملو کې وکاروي.

(سپين، هوښيار، پوه، ښه، بد، شين، لوی، رنا، تياره)

ketabton.com - The Digital Library

شپږ څلوېښتم لوست
مزار (شریف) او بلخ

موخه: د متن لوستل، لیکل د مزار شریف او بلخ په هکله معلومات ورکول دي.

هڅوونکي پوښتنې:

- آیا تاسو مزار شریف لیدلی دی؟ که مو لیدلی وي خبرې پرې وکړئ؟
- ویلی شئ چې بلخ زمونږ د هېواد په کوم ولایت کې دی؟

مزار شریف زمونږ دګران هېواد افغانستان په شمال کې پروت دی په دې ښار کې د آبی جومات په نامه یو ښکلی جومات شته چې زمونږ خلکو او دنړۍ مسلمانانو ته دزیات اهمیت لرونکی دی.

مزار شریف ته نژدې د بلخ د لرغوني ښار نښانې ښکاري. د دې ښار تاریخ له میلاد څخه پنځه سوو کالو مخکې زمانې ته رسیږي.

بلخ په اتمه میلادي پیړۍ کې د پوهې او فرهنګ یو داسې ستر مرکز وچې د ښارونو د مور (اُم البلاد) په نامه یادېده.

دا ښار د چنګیز په تاړاکونو کې وران شو خو بیا په (۱۵) میلادي پیړۍ کې له سره ودان شوی. په دې ښار کې ستر دېوالونه موجود وو چې اوږدوالی یې یوولس زرو متروته رسېده. دا هم په همدې وخت کې له سره جوړ شو. په مزار شریف کې خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. ځینې خلک یې په لاسي صنایعو لکه دغالۍ اوبدلو، د ټغرونو او بدل او داسې نور وباندې لګیا دي. دقره قل د پسونو پالنه هم د دې سیمې ځانګړتیا ته شهرت ورکړی.

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په لوړ آواز ولولئ!
- د متن د موخې په هکله معلومات وړاندې کړئ!

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن په چوپتیا سره ولولئ!

۲. لاندې جملې ولولئ، په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ او بیا د صفت ترکلمو لاندې کرښه وکاږئ.

- په دې ښار کې د ابی جومات په نامه ښکلی جومات شته.
- زمونږ خلکو او دنړۍ مسلمانانو ته دزیات اهمیت لرونکي دی.
- دا جومات د خپلو سپینو کوترو د سیلونو له امله چې په شاوخوا کې یې الوځي یوه ځانګړې منظره جوړوي.

۳. لغتونه او معناګانې

مقبره	زیارت
ځانګړې	خاصه
پېړۍ	قرن

۴. د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره په کتابچو کې ډک کړئ.

الف: مزارشریف یو _____ ښار دی.

ب: په دې ښار کې د آبی جومات په نامه یو _____ جومات شته.

ج: ددې ښار تاریخ له میلاد څخه پنځه سوو _____.

۵. پوښتنې:

- دمزار شریف د ښار جومات څه نومیږي؟
- په دې زیارت کې د چا مبارکه مقبره هم شته؟
- بلخ په اتمه میلادي پېړۍ کې په کوم نامه یادېده؟

ارزونه:

- آیا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- زده کوونکو د مزارشریف او بلخ په هکله پوهه حاصله کړه؟
- زده کوونکو په جملو کې د صفت کلمې پیدا کړی شوې؟
- آیا پوښتنو ته یې مناسب ځوابونه ورکړل؟

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې د مزار شریف او بلخ په اړه شپږ کرښې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

اووه څلويښتم لوست

د نوم او صفت ترمنځ اړيکې

موخه: د متن لوستل ،ليکل د نوم او صفت ترمنځ د اړيکو په هکله پوهېدل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

- د تاسو په فکر د نوم او صفت ترمنځ اړيکې شته؟
- آيا کولی شئ داسې يوه جمله ووايئ چې هم نوم او هم دصفت کلمه ولري؟

لاندې جملې ولولئ او هغو عبارتونو ته ښه ځير شئ چې کرښه ترې لاندې ايستل شوې ده.

۱. هوښيار هلک هېڅکله په ناوړه عمل لاس نه پورې کوي.

۲. مهربانه مور تل خپلو ماشومانو ته پاملرنه کوي.

۳. رونې لمر تياره نړۍ روښانه کوي.

۴. په لوړې ونې کې ډېرې مرغۍ ناستې دي.

په پورتنيو جملو کې (هوښيار، ناوړه، مهربانه، رونې، تياره، او لوړې،) صفتونه دي چې د (هلک، عمل، مور، لمر، نړۍ، ونې) تر نومونو دمخه راوړل شوي دي.

په پښتو ژبه کې صفت ترنوم (موصوف) څخه دمخه او کله کله وروسته راځي لکه،احمد شاه بابا ، نازو انا ، او صفتونه د مذکر او مونث مفرد او جمع په لحاظ د نوم تابع دي.

لکه:	خوږناک،	خوږه مڼه،	پوه زده کوونکی
	خوارې ناکونه،	خوږې مڼې،	پوهه زده کوونکې

ketabton.com - The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

- متن په مناسب آواز ولولئ!
- د نوم او صفت ترمنځ د اړیکو په هکله معلومات ورکړئ او په جملو کې یې د نوم او صفت بېلګې د تختې پرمخ ولیکئ!

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. متن دې په چوپتیا سره ولولي.

۲. لاندې صفتونه دې لومړی د موصوف یعنی د نوم سره یو ځای ولیکي او بیا دې په جملو کې وکاروي.

(تکړه، ښه ، قلم، تېره، زده کونکی، چاړه، وېښتان، کتاب، لاسونه، کالي، تود، سوړ)

دلاندې تشو جملو ځایونه د چوکاټ په مناسبو صفتونو او نومونو سره په خپلو کتابچو بشپړې کړئ.

دا انار _____ دی.	خوږ، مڼه، خوږه، کندهار، چارمغز، کلک
دا _____ خوږه ده.	
دا کیله _____ خوږه ده.	
د _____ انګور خواږه دي.	
د _____ پوستکی _____ وي.	

ارزونه:

- زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
- آیا زده کوونکي په دې پوه شول چې په پښتو ژبه کې صفت د نوم څخه مخکې راځي؟
- زده کوونکي کولی شي چې له یاده داسې جملې ووایي چې د نوم او صفت ترمنځ اړیکې پکې وښیي؟

کورنی دنده:

زده کوونکي دې پنځه داسې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي چې د نوم او صفت ترمنځ اړیکې په کې وښیي.

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې ترانه

پـــوهنـــه ده رڼـــــــــا وطـــــن تـــــه مـــوښکـــــلا
کتـــــــــاب او قلـــــــم زمـــــــــوږه رهنـــمـــــــا

پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

وطـــــن زمـــــا يې ځـــــان له تـــــانه شـــــم قربـــــان
تـــــه وينـــــه دافغـــــــان تـــــه لـــوړ پـــه ټول جهان

پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

آبـــــاد اوســـــې آبـــــاد وطنـــــه تـــــه شـــې ښـــاد
مـــوږه سرښنـــدوپه تـــــــا اوســـــــــــاتو دې آزاد

پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

تـــــه کور يې هـــــم مـــې ګور تـــــه پلاريـــې هـــم مې مور
تـــــــه زړه دآســـــــــيا او زمـــــا دسترګـــــو تـــور

پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

تـــــه ننـــــګ يې دآريـــــــا او تـــــــاج يې ديمـــــــا
ځاربـــږمـــــــه لـــــه تـــــا افغـــــانستـــــان زمـــا

پوهنـــه ده رڼا، وطن ته موښـــکلا
کتاب او قلـــــم زمـــوږه رهنما

محمد مُعین مرستیال

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English